لومړی کال - ۴مه گڼه - ۱۴۴۴ - رجب المرجب

د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت



# آبادي

د ریاست الوزراء
اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

۴
گڼه

- د افغانستان په ملي اقتصاد کې د کورني صنعت ونډه
- د ملي تدارکاتو کمېسیون لومړی غونډه د ملاعبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوه
- له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولول

د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت

بسم الله الرحمن الرحیم

# آبادي

۴ گڼه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي ذبیح الله، مولوي عبدالله عزام، امان الله حنفي او فضل ولي شیراني

**مسؤول مدیر:** مولوي محمد آصف

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالېست:** سید عشرت رحمتي

**چاپ:** بهیر مطبعه

پته: مرمرینه ماڼۍ، کابل - افغانستان

ټیلیفون: ۰۲۰۲۱۰۷۵۰۰

برېښنالیک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af

- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سرلیکنه ۲-۱

کنفرانسونه ۱۳-۳

تړونونه ۱۶-۱۴

سفرونه ۲۱-۱۷

له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولول ۲۳-۲۲

بهر ته د افغاني محصولاتو د کچې زیاتېدل ۲۴

ناستې او ډیپلوماتیکې لیدنې ۳۵-۲۵

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۴۵-۳۶

د قوش تېپې کانال د لومړي فاز چارې 50 سلنه بشپړې
او کارونه یې په چټکۍ سره روان دي ۴۹-۴۶

# سرلیکنه





د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت میاشتنۍ مجلې د خپرېدو موخه د معاونیت د غونډو، پرېکړو، ډیپلوماتیکو لیدنو کتنو، اقتصادي کمېسیون، پېښو ته د رسېدو کمېسیون، ملي تدارکاتو کمېسیون، اقتصادي تحلیلونو او سترو اقتصادي پروژو د پیل په اړه معلومات خپرول دي. لکه څرنگه، چې تاسو ته معلومه ده اقتصاد محوره سیاست د افغانستان اسلامي امارت د پالیسۍ په سر کې ځای لري. نو په همدې موخه تولید او د کاري فرصتونو رامنځته کول یې لومړیتوب دی. افغانستان د پانگونې او تولید ډېر فرصتونه لري. کانونو، کرنې، انرژۍ او صنعت سکټورونه یې د بېلگې په توگه یادولی شو. د اسلامي امارت په راتگ سره په هېواد کې بشپړ امنیت تأمین شوی حکومت له خصوصي سکټور سره په گډه اوس کولی شي کورنۍ پانگونه زیاته کړي، څو د سوداگرۍ پر ځای تولیدي اړخ ته توجه زیاته شي.

کوچنیوو، متوسطو او سترو تولیدي صنعتي فابریکو جوړولو ته زمینه برابره شوې، تر څو په نېږدې راتلونکي کې د وارداتو بدیل وگرځول شي. د افغانستان ستراتېژیک موقعیت ته په کتو سره چې کولای شي مرکزي آسیا له جنوبي اسیا سره ونښلوي او د تېلو، گازو او نورو ستراتېژیکو زېرمو له پاره غوره بازار پیدا کړي. له همدې کبله په افغانستان کې د پانگونې لپاره ښه فرصتونه شته، د افغانستان اسلامي امارت له ملي او نړیوالو سوداگرو څخه ملاتړ کوي، ترڅو وکولای شي چې د ټول افغانستان په کچه د پانگونې فرصتونه او د پانگونې له پاره چاپیریال رامنځته او پر مټ یې لویې پانگونې راجلب کړي. همدغو فرصتونو ته په کتو سره د ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزې حل کړي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه داخلي سرچینو متکي کړي. ریاستالوزراء اقتصادي معاونیت میاشتنۍ مجله د همدې موخې له پاره فعالیت کوي څو وکړای شي، ددغه معاونیت فعالیتونه او اقدامات تر ملت پورې په ښه شکل ورسوي. په میاشتنۍ مجله کې به د اقتصادي چارو کمېسیون، پېښو ته د رسېدو کمېسیون، ډیپلوماتیکو ناستو، ملي تدارکاتو کمېسیون او د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال د کورنیو او بهرنیو سفرونو، کنفرانسونو، له هېوادوالو سره د لیدنو او د ده له لوري د ترسره شوو پرېکړو او د محترم ملاصاحب په مشرۍ د اړوندو ارگانونو له لوري د نیول شوو تصمیمونو او پرمختگونو په اړه راپورونه، د اقتصادي پروژو په اړه تحلیلي لیکنې او په ټوله کې د ریاستالوزراء د اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د کاري پرمختگونو په اړه راپورونه خپرېږي.



# کنفرانسونه

کنفرانسونه



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند؛ د کرنې، اوبولګولو او مالـــدارۍ وزارت د کرنیزو محصولاتو د اووه ویشتم خزاني نندارتون په پرانیست‌غونډه کې ګډون او وینا وکړه

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل، د افغانستان تر اویا سلنه ډېر خلک پر کرنه مصروف دي او د ډېریو ورځنی ژوند پر کرنیز اقتصـــاد پورې تړلی دی. د همدې سیمو د زیارکښـــو بزګرانو په هڅو سره د افغانستان د ښارونو ارتزاقي مواد برابرېږي چې دا کار زموږ ښـــاري ژوند ته خورا لوی اهمیت لري.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، «د حکومت په صفت موږ باید پر دې تمرکز ولرو چې د افغانستان زراعت میکانیزه شي، پـــه دې سره به بزګرانو ته هوســـایي رامنځته شي. موږ له ټولو سوداګرو څخه غواړو چې بزګرانو ته د دغو اســـانتیاوو په برابرولو کې سهیم شي.»

مـــلا عبدالغني بـــرادر اخونـــد د کرنیزو محصولاتو اووه ویشتم خزاني نندارتون ته په وینا کې وویل: «د بزګرانو د حاصلاتو د زیاتوالي لپاره مهمه ده چې کرنې وزارت پر دوی اصلاح شـــوي تخمونـــه وویشي. له طبیعي آفتونو څخه د بزګرانو او باغدارانو د کښتنو د ژغورنې لپاره له خصوصي سکټور څخه غواړم چې د زراعتي باکیفیته درملو پر تولید تمرکز وکړي او لږترلږه افغانستان ته مناسب زراعتي درمل وارد کړي.»

محترم ملا صاحب همدا راز زیاته کړه، موږ ته الله تعالی د ســـیمې په کچه غني هېواد راکړی دی، موږ باید په خپلو هڅو سره خپل ملت د نـــړۍ له احتیاجه خـــلاص کړو او افغانستان په هره برخه کې خودکفا کړو. دا ملت ډېر ســـتړی دی او تر اوسه ورته هېڅ اساسي کار نه دی شوی. زه پر ټولو مسؤلینو غږ کوم چې خپلو مسؤلیتونو ته متوجې او اوسي او د افغانستان د پرمختګ لپاره کار وکړي.

محترم ملا صاحب په پای کې وویل، زه د افغانستان اسلامي امارت د یو مسؤل په حیث تاسو ټولو بزګرانو ته اطمینان درکوم چې اسلامي امارت ستاسې تر څنګ ولاړ دی او له تاسو څخه په کلکه ملاتړ کوي.

> **محترم ملا صاحب په پای کې وویل، زه د افغانستان اسلامي امارت د یو مسؤل په حیث تاسو ټولو بزګرانو ته اطمینان درکوم چې اسلامي امارت ستاسې تر څنګ ولاړ دی او له تاسو څخه په کلکه ملاتړ کوي.**






# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د چين او جنوبي اسيا هېوادونو تر منځ د اقتصادي همکاريو، سوداګرۍ او پانګونې شپږم نندارتون پرانيست غونډې ته ويډيويي وينا وکړه

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل: «د معاصرې نړۍ په اقتصادي مسائلو کې منطقوي اقتصاد يو نوی بحث او داسې مهم مورد دی چې له اهميت څخه يې هېڅوک سترګې نشي پټولی. په منطقوي اقتصاد کې د يو واحد هېواد پر ځای په يوه سيمه کې شامل، د بېلابېلو هېوادونو جغرافيايي، اقتصادي، سياسي او ستراتيژيکو ځانګړنو ته کتنه کيږي او د يادو مواردو له مخې يوه سيمه له بلې سيمې سره خپلې اقتصادي اړيکې تنظيموي. البته، په دې کې هېڅ شک نشته چې په سيمه‌ييزو اقتصادي مناسباتو کې د يوې سيمې هر هېواد خپل ځانګړی ځای او رول لري. د بېلګې په توګه، له مرکزي اسيا څخه د جنوبي اسيا هېوادونو ته د انرژۍ ترانزيټ او همدارنګه، له جنوبي اسيا څخه د مرکزي اسيا هېوادونو ته د صنعتي توليداتو د انتقال په برخه کې، د افغانستان د وصل او ترانزيټي اهميت يادونه کولای شو.»

محترم ملا صاحب زياته کړه، دا چې زموږ او ستاسو په شاوخوا سيمو کې د نړۍ د نفوس ډېرې برخه ژوند کوي او دا سيمې د طبيعي سرچينو له پرېمانه زېرمو څخه بډايه دي دا الزامي ده چې موږ او تاسو خپل سيمه‌ييز سياستونه داسې تنظيم کړو چې له مخه يې زموږ د سيمې د هېوادونو امنيتي، اقتصادي او بشري اندېښنو او اړتياوو ته ځواب وويل شي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې وويل، د آسيا په ستره وچه کې چين، جنوبي آسيا، مرکزي آسيا او په څنګ کې مو منځنی ختيځ هغه سيمې دي چې خورا ډېر باالقوه ظرفيتونه لري. نو، موږ او تاسو په ټوله کې د دې سيمې د اوسيدونکو په صفت اړ يو چې د خپلې سيمې د امنيت، پرمختګ او هوساينې لپاره، په ګډه سره کار وکړو. افغانستان د طبيعي سرچينو، زراعتي محصولاتو او غاليو د صنعت له اړخه د پانګونې او سوداګرۍ باالقوه ظرفيتونه لري او محصولات يې د نړۍ په بازارونو کې خاص ځای لري.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د افغانستان اسلامي امارت چې د افغانستان له خلکو څخه رامنځته شوی د يو مسئول حکومت په حيث، د سيمې ټولو هېوادونو ته ډاډ ورکوي چې هېچا، هېڅ ډلې او جهت ته به اجازه ورنکړي چې له افغانستان څخه د سيمې او نړۍ هېوادونو ته ګواښ پېښ کړي. له افغانستان څخه د بهرنيو سرتېرو په وتلو او د اسلامي امارت په حاکميت سره، 4 لسيزو جګړې پای ته رسېدلې دي او په ټول هېواد کې بشپړ امنيت تأمين شوی دی چې په دې سره افغانستان تر هر بل وخت د ترانزيټ، سوداګرۍ، پانګونې، سيمه ييز اتصال او سيمه‌ييزو همکاريو لپاره په يو مأمون او مناسب هېواد بدل شوی دی.

همدارنګه محترم ملا صاحب زياته کړه، په افغانستان کې موجود ډاډمن امنيت د دې باعث شوی چې د ټاپي په شان د سترې منطقوي پروژې چارې ګړندۍ شي او په څنګ کې يې د کاسا زر، ټاپ او تو ټاپ په

شـــان پروژو بیا پیل او داســـې نورو نویو پروژو ته چاپیریـــال برابر شي. د یادولو ده چې د چین، جنوبي آســـیا، مرکزي آسیا او منځني ختیځ په وصل کې د چین هېواد په زیار او پانګونې، د یوې لارې او یو کمربند پـــروژه، ډېر حیـــاتي رول درلودلی شي. دا پـــروژه به زموږ په ســـیمه کـــې منطقوي همکارۍ پیاوړې او د هېوادونو تجارت ته به وده ورکړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه: «د چین هېواد یوه ځانګړنه دا ده چې زموږ په ســـیمه کې کومه مخربه ســـیاسي اجنـــډا پر مخ نه وړي او زمـــوږ په کورنیو چارو کې مداخلـــه نه کوي، نو دا د نړېوال اقتصاد په ګټه ده چې موږ په خپله ســـیمه کې د یو بل سره د متقابـــل تعامل پر بنا، خپلې همکارۍ غښتلې کړو. د دې ترځنګ، افغانســـتان پوره چمتووالـــی لري چې د مرکزي او جنوبي آســـیا د وصل او ترانزیټ مأمونه او مطمئنه لار و اوسي او خپلې پولې ان د منځني ختیځ د تجارت د وصل پرمخ خلاصې کړي.»

محترم مـــلا صاحـــب زیاته کـــړه: زه د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په صفت د جنوبي آسیا پر ټولو هېوادونو غږ کوم چې افغانستان مرکزي آسیا ته ستاسو د تجارتي اموالو لپاره د ترانزیټ او انتقال اړوند هر ډول همکارۍ ته چمتو دی او تاسو کولای شئ په پوره او ډاډمن امنیت کې خپل اموال د مرکزي آسیا بازارونو ته واســـتوئ. همدا راز، د نړۍ له ټولو پانګوالو څخه غواړم چې راشي او په افغانستان کې پانګونه وکړي او د افغانستان د خلکو سره په ګډه خپل مشروع اقتصادي او تجارتي اهداف تر لاسه کړي.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو په پای کې وویل، چې دا ډول نندارتونونه مرسته کوي، څو د ســـیمې د هېوادونو تجـــاران د نورو هېوادونو محصولات او تولیدات و پېژني او د باور په رامنځتـــه کېدو سره له یو بل سره تجارتي معامـــلات تر سره کړي. هیله لرو چې په راتلونکي فرصـــت کې دا ډول نندارتونونـــه زیـــات او د افغانســـتان محصولات پکې نندارې تـــه وړاندې کړل شي. همدا راز، په داسې نندارتونونو کې د نورو هېوادونو ترڅنګ، افغان ســـوداګر هم حضوري ګډون ولري.

> **زه د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال په صفت د جنوبي آسـیا پر ټولـو هېوادونو غږ کوم چې افغانستان مرکزي آسیا ته ستاسو د تجـارتي اموالو لپاره د ترانزیټ او انتقال اړونـد هر ډول همکارۍ تـه چمتو دی او تاسو کولای شئ په پوره او ډاډمن امنیت کې خپل اموال د مرکزي آسیا بازارونو ته واسـتوئ. همـدا راز، د نـړۍ لـه ټولـو پانګوالـو څخه غـواړم چـې راشي او په افغانسـتان کـې پانګونـه وکـړي او د افغانسـتان د خلکـو سره په ګـډه خپل مـشروع اقتصادي او تجـارتي اهداف تر لاسه کړي.**

> **د افغانسـتان اسـلامي امـارت چـې د افغانستان له خلکو څخه رامنځته شوی د یو مسئول حکومت په حیث، د سیمې ټولو هېوادونو تـه ډاډ ورکوي چې هېڅا، هېڅ دلـې او جهت ته به اجازه ور نکړي چې له افغانسـتان څخـه د سـیمې او نـړۍ هېوادونـو تـه ګـواښ متوجـه کـړي. له افغانستان څخه د بهرنیو عسکرو په وتلو او د اسـلامي امارت پـه حاکمیت سره، ۴ لسـیزو جګړې پای ته رسـېدلې دي او په ټول هېواد کې بشپړ امنیت تأمین شوی دی په دې سره افغانستان تر هر بل وخت، د ترانزیټ، تجارت، پانګونې، منطقوي وصل او سیمه ییزو همکاریـو لپـاره په یو مأمـون او مناسب هېواد بدل شوی دی.**

> **د خپلو خبرو په پای کې باید ووایم چې دا ډول نندارتونونـه مرسـته کـوي، څو د سیمې د هېوادونـو تجـاران د نـورو هېوادونو محصولات او تولیدات و پېژني او د بـاور په رامنځته کېدو سره له یو بل سره تجارتي معاملات تر سره کړي. هیله لرو چې په راتلونکـي فرصت کې دا ډول نندارتونونـه زیـات او د افغانسـتان محصولات په زیاته پیمانه پکې نندارې ته وړاندې کړل شي.**

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند؛ د پېښو د خطرونو کمولو نړیوالې ورځې لمانځغونډه کې ګډون او وینا وکړه

محترم ملا صاحب په همدې ډول جوړو شوو مراسمو ته په وینا کې وویل: رامنځته کېدونکي طبیعي حوادث د الله تعالی له لوري دي، خو موږ او تاسې پر ځمکه د الله ج د بنده‌ګانو په صفت یادو پېښو ته په تدبیر نیولو سره مکلف شوي یو. متأسفانه روان اقلیمي بدلون او وروستي طبیعي حوادث د نړۍ تر څنګ، زموږ په ګران افغانستان کې هم د سختو او بې وخته بارانونو باعث شول، چې په پایله کې یې شدید سیلابونه راغلل او زموږ ولسونو ته یې ځاني او مالي تلفات واړول. همدارنګه زموږ د هېواد په جنوب-ختیځ کې سختې زلزلې وشوې چې خلک یې سخت متضرر کړل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، د افغانستان اسلامي امارت د خپلو موجوده امکاناتو په کارولو سره کوښښ وکړ چې له زیانمنو خلکو سره مرستې وکړي او ژوند یې وژغوري. موږ په دغه برخه کې له ټولو مسؤلو ارګانونو مننه کوو چې شپه او ورځ یې زحمت و ایست.

محترم ملا صاحب د پېښو د خطرونو کمولو نړیوالې ورځې لمانځغونډې ته وویل، د حکومت په صفت موږ او تاسې مکلف یو چې د زیانمنو لاسنیوی وکړو او په راتلونکي کې د ولس د مرستې لپاره پوره چمتووالی ولرو.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په پکتیکا ولایت کې له زلزلو ځپلو سره د مرستو رسولو په دوام وویل، زه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په حیث په همدې مجلس کې اعلان کوم، چې د مؤسساتو لخوا د تېرې زلزلې له امله د پکتیکا ولایت زلزله ځپلو ته د کورونو جوړولو په باب د ساختماني موادو ریالیټې مکمله معاف ده او پر مسؤلینو غږ کوم چې هلته د متضررو هېوادوالو د کورونو د ودانولو په چارو کې تسهیل وکړي.









**رامنځته کېدونکي طبیعي حوادث د الله تعالی له لوري دي، خو موږ او تاسې پر ځمکه د الله ج د بنده‌ګانو په صفت یادو پېښو ته په تدبیر نیولو سره مکلف شوي یو.**





## د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند، د ملي اقتصاد د پیاوړتیا په موخه د افغانستان د اوسپنې ویلې کولو فابریکو د ملاتړ او هڅونې په پار جوړه شوې غونډه کې ګډون او وینا وکړه

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل، پرته له شکه چې د هېواد په اقتصادي وده کې د صنعتکارانو رول مهم دی او موږ خوشاله یو چې افغان صنعتکارانو خپل دغه رول په ډېر ښه ډول سره ادا کړی دی.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د نړۍ د پرمختللو هېوادونو اقتصادي وده له صنعتي فعالیتونو پیل شوې او د صنعتي کېدو لپاره یې د کلونو کلونو اوږد سفر کړی دی. امید لرو چې افغانستان به هم دا مزل په کامیابۍ سره وکړي او په راتلونکي کې به یو پیاوړی اقتصاد ولري.

محترم ملا صاحب د اوسپنې ویلې کوونکو فابریکو ستاینغونډې ته وویل، زه د یو مسؤل په صفت پر صنعتکارانو او تجارانو غږ کوم، چې خپل تولیدات د معیارونو مطابق برابر کړي؛ ځکه اسلامي امارت که د هېواد او هېوادوالو د سوکالۍ په موخه صنعت ته ترجیح ورکوي، کیفیت او معیار بیا ورته تر ټولو لومړیتوب لري.

همدا ډول د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، موږ د یو مسؤل حکومت په صفت له ټولو صنعتکارانو او تجارانو او په ځانګړي ډول د اوسپنې له ویلې کوونکو فابریکو څخه په کلکه ملاتړ کوو. موږ هڅه کوو ترڅو تاسو ته د برېښنا په برابرولو او همدا راز ستاسې د ځاني او مالي امنیت په تأمین کې لا ډېره همکاري وکړو.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، لکه څنګه چې تاسو په جریان کې یاستئ، موږ له هېواد څخه د زړو اوسپنو د ایستلو مخنیوی وکړ، هدف مو دا و چې ستاسې د خامو موادو ضرورت پوره کړو او د خپلو کورنیو تولیداتو ملاتړ وکړو. د افغانستان اسلامي امارت په پلان کې لري چې د شفافو پروسو له لارې د اوسپنې کانونه داوطلبۍ ته وړاندې کړي، ترڅو په راتلونکي کې زموږ د اوسپنې ویلې کوونکې فابریکې د خامو موادو له کمښت سره مخ نشي.

په پای کې محترم ملا صاحب د هېواد له صنعتکارانو څخه د زړه له کومي مننه وکړه، چې دوی د خپل هېواد په اقتصادي وده او پراختیا، ولس ته د کاري فرصتونو په برابرولو او د هېوادوالو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې کوښښ کوي.

> **موږ د یو مسؤل حکومت په صفت له ټولو صنعتکارانو او تجارانو او په ځانګړي ډول د اوسپنې له ویلې کوونکو فابریکو څخه په کلکه ملاتړ کوو. موږ هڅه کوو ترڅو تاسو ته د برېښنا په برابرولو او همدا راز ستاسې د ځاني او مالي امنیت په تأمین کې لا ډېره همکاري وکړو.**



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ملت ته د دولت حساب ورکولو پروګرام کې د حکومتي ادارو او رسنیو د فعالې ونډې اخیستنې تقدیر مراسمو کې ګډون او وینا وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ملت ته د دولت حساب ورکولو په پار جوړې شوې ناستې ته وویل: «د افغانستان اسلامي امارت د تېر یو کال لاسته راوړنې له خپل ملت سره شریکې کړې او د ملت له لوري وستایل شوې، زه هم دلته د یو څو نمونو یادونه کوم چې عبارت دي له لاندې مواردو څخه: په ټول هېواد د شرعي نظام حاکمېدل، اداري اختلاس او د تریاکو کښت صفر کېدل، ملي بودیجه له کورنیو سرچینو ترتیبول، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې افغانۍ باثباته پاتې کېدل، د موازي ادارو له منځه وړل او په ادارو کې د کاري پروسو د اسانه کولو پر لور جدي ګامونه اخیستل، لسګونو زرو هېوادوالو ته په پراختیایي پروژو او کانونو په برخه کې د کار زمینه برابرول، په تعلیمي، تحصیلي او روغتیایي برخو کې د ډېرې ستونزو حل کېدل، د لویو لارو بیارغونه، د هېواد په کچه د بنسټیزو پروژو لکه د قوش‌تېپې کانال، افغان انویسټ شرکت، د کجکي بند دوهم فاز، د پیروزي ښارګوټي صنعتي پارک او د قشقرې تېلو بلاک پرانستل یې د مثال په توګه یادولی شو. د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې لپاره د سهولتونو رامنځته کول، د لسګونو زرو معتادینو تداوي او د زرګونو سوالګرو راټولولو پروسې اوس هم دوام لري».

محترم ملا صاحب زیاته کړه: «تاسو ته بهتره معلومه ده، موږ ته داسې یو غربت ځپلی نظام او اداره په میراث راپاتې شول، چې چارواکو یې له خپل ځان او کورنۍ پرته ملت او ولس ته هېڅ کار نه دی کړی».

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل: د تېرو شلو کلونو اشغال څخه په میراث راپاتې ستونزې په یوه کال کې نشي حل کېدای خو بیا هم د تېر یو کال په جریان کې د افغانستان اسلامي امارت لاسته راوړنې د ستایلو وړ دي. افغانستان سره له ټولو ستونزو او دردونو بیا هم د امید او آبادۍ په لور چټک ګامونه اخلي.

محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په پای کې د ټولو حکومتي مسؤولینو د هڅو قدرداني وکړه او په کارونو کې یې د الله جل جلاله له دربار څخه ورته کامیابي وغوښته.



# محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د مسلمانانو د ستر محسن امام المجاهدین امیرالمؤمنین مرحوم ملا محمد عمر مجاهد وروستی ارامگاه د ښودلو په مراسمو کې گډون او وینا وکړه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امیرالمؤمنین مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د وروستی ارامگاه ښودلو په پار جوړو شوو مراسمو کې هغه خوب خلکو ته بیان کړ، چې نن پر واقعیت بدل شوی دی، محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل، چې له زندان څخه تر خوشې کېدو وروسته، د امیرالمؤمنین شیخ صاحب په لارښوونه محترم مولوي صاحب محمد یعقوب مجاهد او خلیفه صاحب له لوري ورته د قطر سیاسي دفتر مسؤولیت وسپارل شو، خو محترم ملا صاحب وایي، څکه یې ونه مانه چې دا یو درونږ مسوولیت و. ښاغلي ملا صاحب زیاته کړه چې ده له مسوولیت اخیستلو ډډه وکړه خو د یادو کسانو له ټینگار وروسته یې، د شپې له خوا عالیقدر امیرالمؤمنین مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په خوب ولید چې سر او وجود یې سره جلا وي او له سر سره یې یوه زرغونه ونه ولاړه وي. ما یې سر او وجود سره یو ځای کړل. نوموړی وایي تعبیر مې یې داسې وکړ چې د مرحوم ملا صاحب وجود د اسلامي امارت نظامي برخه او سر یې سیاسي برخه ده. الله تعالی به له ما دا خدمت واخلي چې په کامیابۍ له نظامي برخې سره د سیاسي برخې په یو ځای کولو به دا نظام ښه تکمیل او په نتیجه کې به یې څښتن تعالی یوه لویه کامیابي افغانانو ته ور په برخه کړي. همدا دی نن د هغې صحنې شاهدان یو چې د مذاکراتو له بریالیو پړاوونو وهلو او کامیابه نظامي مبارزې وروسته د اسلامي امارت سیاسي او نظامي مشرتابه په داسې حال کې دلته حضور لري چې الله تعالی یې پر ولس مبینه فتحه لورولې ده او مرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین ملا صاحب یې خوا کې آرام کوي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د

# «مالي جريمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ»

تر سرليک لاندې جوړې شوې غونډه کې ګډون وکړ

د ارګ په سلام خانې ماڼۍ کې د مالي جريمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ تر سرليک لاندې جوړې شوې غونډه کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ګډون وکړ. په غونډه کې چې د افغانستان اسلامي امارت لوړ پوړو مسوولينو ګډون کړی وو، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وينا کې وويل چې ماليات د يوه هېواد د ملي عوايدو په تأمين کې ډېر مهم رول لري. همدا ماليات دي چې د هېوادونو ملي بوديجه جوړوي او د ولسونو امنيت، عامه خدمتونه او هوساينه تضمينوي. دغه راز نوموړي زياته کړه چې په اوسنيو شرايطو کې ملي بوديجه له کورنيو عوايدو برابريږي، نو دا د دوی او په ځانګړي ډول د ماليې وزارت دنده ده چې د ماليات په راټولولو کې شفافيت رامنځته کړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه چې د سوداګرو او صنعت کارانو په ګډون د ټولو هېوادوالو مسووليت د افغانستان اسلامي امارت پر غاړه دی، نو په کار ده چې دوی ته په هره برخه کې اسانتياوې رامنځته او د مال او عزت ساتنه يې وشي. الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلې وينا په بله برخه کې د مالياتي جريمو معافيت ته په اشارې سره وويل پنځه کلنې او درې کلنې ارزونې له امله سوداګر له ستونزو سره مخ دي او له همدې امله په بهر کې ميشت زياتره سوداګر هېواد ته د راتګ له پاره زړه نه شي ښه کولای، نوموړي له ماليې وزارت څخه وغوښتل چې دې ستونزې ته دې اساسي حللاره پيدا او خپل اجرايي ميکانيزم دې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي، څو په لوړه کچه په دې اړه تصميم ونيول شي. نوموړي د خپلو خبرو په پای کې له سوداګرو او صنعت کارانو څخه وغوښتل چې خپلې ماليې دې په شفاف ډول اړوندو ارګانونو ته وسپاري څو په راتلونکي کې هم اسلامي امارت وتوانيږي له خپلو کورنيو عوايدو څخه خپل لګښتونه پوره کړي.





الحاج ملا عبد الغني برادر اخوند

مالیــات د یوه هېواد د مــلي عوایدو په تامین کې ډېر مهم رول لري.
همدا مالیات دي چــې د هېوادونو ملي بودیجه جوړوي او د ولسونو امنیت، عامه خدمتونه او هوساینه تضمینوي.





# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان بانک د مالي ثبات کمېټې شپږمه غونډه کې گډون او د بانکونو سهمدارانو ته يې وینا وکړه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دغه غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، چې له کلونو وروسته په افغانستان کې امنیت تأمین او اسلامي نظام قائم شوی او د دغه نظام یوازینۍ هیله افغانانو ته هوسا ژوند برابرول دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، چې د بانکونو ستونزې باید هوارې شي او په دې برخه کې يې د مالي ثبات کمېټې له غړو وغوښتل چې خپلې سلا مشورې دې ورسره شریکې کړي.

محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو په دوام وویل، چې بانکي سکټور له ځینو ستونزو سره مخ دی، یوه عمده ستونزه يې د نقدینگۍ کمښت دی او د دغې ستونزې په حل کې ستاسو ټولو همکارۍ ته خاصه اړتیا ده، د افغانستان اسلامي امارت په استازولۍ تاسو ټولو ته ډاډ درکوم، چې ستاسو غوښتنې به اورېدل کېږي او ستاسو سره به د قانون په چوکاټ کې پوره همکاري کېږي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، چې افغانستان یو نوی اقتصادي پړاو پیل کړی، د دغه اقتصادي پړاو په بریالي کولو کې د سوداگرو، پانگوالو او بانکي سکټور همکاري رغنده رول لري او له تاسو محترمو څخه مې هیله ده، چې په دغه برخه کې لازمه همکاري وکړئ.

محترم ملا صاحب بهر ته تللي د خصوصي بانکونو سهمداران هېواد ته را وبلل؛ هغوی ته يې د هر ډول خوندیتوب ډاډ ورکړ او له بانکي سکټور سره يې د هغوی همغږي او همکاري لازمه وبلله. په پای کې محترم ملا صاحب د مالي ثبات کمېټې غونډه مهمه وبلله او هیله يې وښوده چې د دغو غونډو دوام به د هېواد په مالي او بانکي سکټور کې شته ستونزې له منځه یوسي. د یادولو وړ ده، چې د مالي ثبات کمېټه په هېواد کې د احتمالي مالي کړکېچونو د تنظیم او مدیریت د لا ښې همغږۍ په موخه راغوښتل کېږي.





# تړونونه

قراردادونه

د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په هدايت
د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او ګاک کمپنۍ تر منځ

# «د هوايي لارښوونو خدمتونو»

## قرارداد لاسليک شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په هدايت د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او عربي متحده اماراتو د ګاک کمپنۍ تر منځ «د هوايي لارښوونو خدمتونو» قرارداد لاسليک شو.

د دغه قرارداد د لاسليک کېدو پر مهال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، څه مهال مخکې زموږ په حضور کې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د متحده عربي اماراتو د ګاک کمپنۍ تر منځ د هېواد د درېيو مهمو هوايي ډګرونو کابل، کندهار او هرات د ځمکنيو خدماتو چمتو کولو قرارداد لاسليک شو، چې پر اساس يې بېرته افغانستان ته ځينې نړيوال پروازونه پيل شول او له شکه پرته دې چارې د هېواد پر اقتصاد مثبت اغېز درلود.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د هېواد د اقتصادي پياوړتيا په موخه دا دی موږ نن له ګاک کمپنۍ سره د هوايي لارښوونو خدمتونو قرارداد لاسليک کوو.

د يادولو وړ ده چې د دغه قرارداد له تطبيق سره به هغو الوتکو ته چې د افغانستان له فضا څخه تيرېږي او په نړيوالو هوايي ډګرونو کې ناسته کوي، د هوايي لارښوونې چوپړتياوې د نړيوالو معيارونو مطابق وړاندې کيږي، د الوتکو مصئونيت له دې پلوه خوندي او د عبوري پروازونو د عوايدو سرچينه به يو ځل بيا پرانيستل شي.

د دغه قرارداد له مخې به د افغانستان هوايي ډګرونه په معياري او سټنډرډ تجهيزاتو سمبال او د ګاک کمپنۍ له لوري به د هوايي لارښوونو خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې افغانانو ته روزنه ورکول کېږي.





## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال
## الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند،
# چین ته د هوایي دهلېز له لارې د جلغوزو
# د صادراتو د بیا پیل پرانیسته وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې تړاو جوړو شوو مراسمو ته وویل، خوشاله یم چې نن د افغانستان او افغانانو په خیر او ګټه، د یو داسې فعالیت د بیا پیل شاهدان یو، چې په پایله کې به یې د افغانستان او چین تر منځ سوداګریزې اړیکې پیاوړې او زموږ د جلغوزو تولید او صادرات به د پام وړ وده وکړي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه: «هوایي دهلېزونه د نړۍ بازارونو ته د افغانستان د تولیداتو په رسولو کې خورا حیاتي ارزښت لري، نو د افغانستان او چین تر منځ دا هوایي دهلېز به د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګریزې اړیکې لا مستحکمې او زموږ د جلغوزو تولید او پروسس به پیاوړی کړي.»

همدارنګه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل چې افغانستان په جغرافیوي لحاظ په وچه کې راګیر هېواد دی او له همدې امله وخت ناوخت د افغان سوداګرو صادراتي او وارداتي مالونه د نورو هېوادونو په ګمرکي دروازو کې په ورځو ورځو درول شوي وي، چې له امله یې زموږ د سوداګرو مالونه خراب او درانه مالي زیانونه ور اوړي.

بناءً، هوایي دهلېزونه د افغانستان په شان په وچه کې راګیر هېواد ته هغه لاره ده، چې کولای شي خپل مالونه بې له کوم ځنډ او خنډ د نړۍ مارکېټونو ته ورسوي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د افغانستان هوایي دهلېزونو ته وسعت ورکړي، ترڅو وکولای شو چې د چین تر څنګ د سیمې او نړۍ هېوادونو ته هم خپله وچه او تازه میوه، زعفران او نور محصولات د افغانستان په نښان او نامه صادر کړو. د افغانستان اسلامي امارت هر وخت سوداګرو ته د سهولتونو برابرولو هڅه کړې او کوښښ کوي چې افغانستان د سیمې له لویو مارکېټونو سره وصل کړي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وویل، دا مهال به د افغانستان د جلغوزو د صادروونکو سوداګرو او کام ایر هوایي شرکت د هوکړې له مخې، 20 ټنه جلغوزي د کابل له هوایي ډګر څخه د چین د شانګهای هوایي ډګر ته واستول شي او دا لړۍ به دوام ولري.




Palermo
Sicilia
Catania
Valletta
MALTA
Tunis
Sousse
Tripoli
Tarabulus
NW
N
NE
S
SE
SW
280
300
320
340
260
240
220
200

# سفرونه



# لوګر ولایت ته

## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند لوګر ولایت ته سفر وکړ.

په دې سفر کې محترم ملا صاحب، چې د کانونو او پټرولیم، اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارتونو محترم وزیران، د چارو اداري مشر او یو شمېر امنیتي مسوولینو یې ملتیا کوله، د لوګر ولایت د مس عینک کان بېلابېلې برخې وکتلې.

محترم ملاصاحب وویل، چین او افغانستان تاریخي اړیکې لري، اسلامي امارت د دغو اړیکو لا پراختیا غواړي او د دې بنسټیزې پروژې د کارونو له پیل سره به د کابل – بیجینګ اړیکې لا پراخې شي.

نوموړي زیاته کړه، افغانستان پراخې طبیعي زېرمې لري او اوسمهال په افغانستان کې یو خوندي چاپېریال رامنځته شوی دی، نو له کورنیو او بهرنیو پانګوالو څخه غواړو، چې راشي په افغانستان کې پانګونه وکړي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د مس عینک کان د هېواد له پاره مهمه اقتصادي سرچینه وبلله، او زیاته یې کړه چې دوست هېواد چین څخه چې د دغه کان د استخراج قرارداد ورسره شوی دی، غواړو چې ژرتر ژره یې عملي چارې پیل کړي.

محترم ملا صاحب همدا راز د دغه کان لرغونې سیمې هم وکتلې. نوموړي وویل، چې ددې سیمې لرغوني اثار دې وساتل شي. دغه راز محترم ملا صاحب په دغه سیمه کې د موجودو لرغونو اثارو د انتقال په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

د یادونې وړ ده چې د مس عینک کان په افغانستان کې د مس تر ټولو ستر او په نړېواله کچه د مس دویم کان دی. د یاد کان قرارداد د چین هیواد د ام سي سي په نوم شرکت سره شوی، چې اوس یې لومړنۍ چارې تر یوه بریده پیل شوې دي. د یاد کان د استخراج له چارو سره به له یوه لوري په میلیونونو ډالر د افغانستان ملي عوایدو ته جمع شي او له بل لوري به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي.



# نیمروز ولایت ته

## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند نیمروز ولایت ته سفر وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستيال د نیمروز ولایتي مسؤلینو په ملتیا له کمال خان بند څخه لیدنه وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کمال خان بند پروژې د مسؤلینو د ترسره شوو چارو ستاینه وکړه او هغوی ته یې د کارونو د لا ښهوالي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

د کمال خان بند د هېواد په کچه یو له لویو بندونو څخه دی، چې د نیمروز ولایت په چهاربرجک ولسوالی کې د هلمند پر سیند د موسمي سېلابونو د کنټرول، کرنیزو ځمکو خړوبولو او برېښنا د تولید په موخه جوړ شوی دی.

هغه کرنیزې ځمکې چې د کمال خان له بند څخه خړوبیږي مساحت یې 174000 زره هکټارو ته رسیږي. دا بند د کرنیزو ځمکو د سمسورتیا ترڅنګ د چاپیریال خوندي ساتلو او روان ربګ د کنټرول په برخه کې هم ګټور تمام شوی دی.

د کمال خان بند کارونه څو لسیزې وړاندې د محمد داوود خان په وخت کې پیل شول، خو تر اوسه یې چارې په مکمل ډول نه دي بشپړې شوې. د افغانستان اسلامي امارت په پلان کې لري، چې په نږدې راتلونکي کې د یادې ملي پروژې پاتې چارې هم بشپړې کړي.

محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند نیمروز ولایت ته د سفر پر مهال د کمال خان بند پروژه ملي او حیاتي وبلله او د رامنځته شویو نوښتونو له امله یې د مسؤلینو د هڅو قدرداني وکړه.

د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په راتګ سره د بنسټیزو پروژو پیل او رغونې ته ځانګړې پاملرنه زیاته شوې، چې ښه بېلګه یې په شمال کې د قوش‌تېپې کانال پیلېدل، په هلمند کې د کجکي بند دویم فاز ګټې اخیستنې ته سپارل، کابل – کندهار سړک بیارغونه، امو سیند نفتي حوزې د تېلو استخراج قرارداد او داسې نورې سترې بنسټیزې پروژې دي، چې کارونه یې په چټکۍ سره روان دي.





## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند
## په لویه اقتصادي غونډه کې د ګډون او وینا په موخه هرات ولایت ته سفر وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د علماوو، قومي مخورو، سوداګرو او پانګوالو له لوري په جوړه شوې لویه اقتصادي غونډه کې د ګډون په موخه هرات ولایت ته سفر وکړ.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې ټولو راغلو علماوو، قومي مخورو، پانګوالو، صنعتکارانو، ملي سوداګرو او د هرات ولایت اوسېدونکو ته سلامونه او نېکې هیلې وړاندې کړې او خوشالي یې څرګنده کړه، چې له لسیزو ناامنیو وروسته د هرات شریف ولس لــه سرتــاسري امنیت څخه برخمن دی او د ژوند ټولې چارې یې د امن په فضاء کې ترسره کېږي.

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال دغې غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د یو هېواد د اقتصادي ثبــات او پرمختګ لپاره اساسي عنصر امنیت دی، چې الحمدالله له کلونو جګــړو او ظلمونو وروســته نن په افغانستان کې بشپړ امنیت قایم شوی او پر موږ لازمــه ده چې د الله تعالی د دغه لوی نعمت شکر اداء کړو.

د محترم ملا صاحب په خبره، د اســلامي امــارت پــه بیــا واکمنېــدو سره د ټولو هېوادوالــو، صنعتکارانو، ســوداګرو او صرافانو امنیت خوندي شوی، په داسې حال کې چــې د کابل تېرې ادارې پــر مهال یې شــتمنی، کورنو او خپلــه دوی ته بېلابېل ګواښــونه او تهدیدونه متوجه وو. د کابل تېرې ادارې فاسدو چارواکو نه یوازې دا چې د دوی امنیت یــې خوندي کړی نه ؤ، بلکې همدغو چارواکو د عامو خلکو او سوداګرو 750 میلیونه ډالر شخصي پیسې له بانکونو ایستلې او له ځان سره یې وړې دي.

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال دغې ناستې ته په وینا کې وویل، پر افغانستان د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره د هرات ولایت د سوداګرو او پانګوالو ستونزې حل شوې او په کومو برخو کې چې ستونزې شته، هغه به هم په نږدې راتلونکي کې حل کړل شي. محترم ملاصاحــب د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، زه پر ټولو افغان کادرونو، ملي سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو غږ کوم، چې راشي له خپلــو هېوادوالو سره یوځــای د هېواد د آبادۍ لپــاره کار وکړي. بهرنیان زموږ هېواد نه جوړوي، موږ به خپل هېواد په خپله جوړوو، چې د شکر ځای دی الله تعالی د ســیمې په کچه یو غني هېواد راکړی دی.

الحاج مــلا عبدالغني برادر اخوند وویل، د افغانستان اسلامي امارت تر فتحې وروسته توانېدلی چې د بهرنیو اســعارو پر وړاندې افغانۍ باثباته وساتي، په داسې حال کې چې د سیمې باثباته هېوادونه د خپلو اسعارو د

ثبات ساتلو په برخه کې پاتې راغلي دي.
محترم ملا صاحب وویل، موږ د ښه مدیریت پر مټ وتوانېدو چې د افغانستان بانکي سیستم له سقوط او پاشل کېدو وژغورو. د افغانی د چاپ او نشر په برخه کې هم د اړوندو ارگانونو له لوري هڅې رواني دي او په نږدې راتلونکي کې به ان شاءالله په دې برخه کې شته ستونزې حل شي.
الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړه، د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت په بهرنیو هېوادونو کې د افغانی د پشتوانې د پیاوړتیا په موخه د خپلو کنګل شوو پیسو د مطالبې په اړه خپلې هڅې او غوښتنې د پخوا په څېر جاري ساتلې دي او دا پیسې به بېرته افغانستان ته ورکول کېږي.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دغه لویې اقتصادي غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د افغانستان اسلامي امارت د تېر یوه کال پر مهال د عوایدو په برخه کې خپلو ټاکلو اهدافو ته رسېدلی او د هېواد ټول لومړني ضرورتونه یې له خپلو کورنیو عوایدو پوره کړي دي. د فتحې له لومړیو راپدېخوا ورځ په ورځ د افغانستان اقتصاد مثبت لوري ته روان دی او په دې برخه کې موږ لا هم شپه او ورځ هڅې کوو. زه د یو مسؤل حکومت په استازیتوب د هرات ولایت سوداگرو او پانگوالو ته اطمینان درکوم، چې ستاسې اقتصادي طرحه به تر ارزونې وروسته زموږ د اجراأتو په سر کې قرار ولري او ژر تر ژره به یې د عملي کېدو چارې پیل شي.
الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د زده کړو، سوداگرۍ، پانگونې او صنعت په برخه کې د دغه ولایت د اوسېدونکو لاسته‌راوړنې وستایلې او هغوی ته یې سپارښتنه وکړه، چې په دغو برخو کې لا هم جدي کار وکړي، څو افغانستان د پر ځان بسیاینې خوا ته گړندي گامونه اوچت کړي.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هرات اوسېدونکو، سوداگرو او پانگوالو ته زیری ورکړ چې په نـږدې راتلونکي کې به د تاپي پروژې چـارې له هرات څخه شروع شي او لومړی گـام به یـې هم د دغـه ولایت اوسېدونکو ته ورسېږي.
محترم ملا صاحب وویل، پر تاپي پروژې سربېره به د هرات ولایت په صنعتي پارک کې د پنځـم فاز چارې هم شروع شي او د سیمنټو فابریکې ته نږدې به د پل هاشمي په سیمه کې صنعتي ښارگوټي جوړولو چارې به هم پیل شي.
د هرات ولایت اوسېدونکو هم د اسلامي امارت د ملکي او نظامي مسؤلینو له چلنده خوښـي څرگنده کړه او ویـې ویل، دوی خوشـاله دي چې پر ټول افغانستان بشپړ اسلامي نظام حاکم شوی او نور د نفرت، قومي تعصب او نفاق لمن ټوله شوې ده.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخونـد له ټولو هغو علماوو، قومي مخورو، سوداگرو، پانگوالو او د هرات ولایت له مسـئولینو څخه مننه وکړه، چې دغه غونډه یې ترتیب کړې وه.

**د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هرات اوسېدونکو، سوداگرو او پانگوالو ته زیری ورکړ چې په نږدې راتلونکي کې به د تاپي پروژې چارې له هرات څخه شروع شي او لومړی گته به یې هم د دغه ولایت اوسېدونکو ته ورسېږي.**







## له کابل ښار څخه

# د سوالگرو راټولول

د امیرالمؤمنین شیخ هِبةالله اخوندزاده (حفظه‌الله) د حکم پر اساس د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ یوې کمېټې ته مسؤلیت وسپارل شو، څو د کابل ښار سوالگر راټول او ستونزې یې حل کړي.

له نېکه‌مرغه په کابل ښار کې د سوالگرو راټولولو لړۍ د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ؛ د کورنیو چارو وزارت، کار او ټولنیزو چارو وزارت، اطلاعات او فرهنګ وزارت، کابل امنیه قومندانۍ او افغان سرې میاشتې ټولنې لخوا په ډېر ښه شکل سره روانه ده، چې د روان 1401 لمریز کال د دلوې میاشتې تر 10مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سیمو 27176 سوالگر راټول شوي دي. د راټولو شویو سوالگرو له جملې 12041 ښځینه دي چې تر ارزونې وروسته یې 5417 مستحقې او 6624 بیا حرفوي سوالگرې پېژندل شوې دي. 3520 نور نارینه دي چې تر ارزونې وروسته یې 1137 مستحق ګڼل شوي او 2383 بیا حرفوي سوالگر دي. په راټولو شویو 27176 سوالگرو کې 11615 ماشومان دي چې له ډلې یې 4173 مستحق، 7372 حرفوي او 70 بیا بې سرپرسته ماشومان دي.

د سوالگرو راټولولو کمېټې د کابل امنیه قومندانۍ په واسطه د کابل ښار ټولو امنیتي حوزو ته امر کړی، چې هره حوزه په خپله محدوده کې هره ورځ واقعي سوالگر راټول کړي. د دغو سوالگرو هویت لومړی په هماغه حوزه کې چې دوی راټول کړي ثبت او وروسته د اړوندو ارگانونو له لوري جوړې شوې کمېټې ته تسلیمېږي.

راټول شوي سوالگر ټول د کابل دارالتأدیب ته وړل کېږي، هلته لومړی په درېیو کټه‌گوریو (نارینه، ښځینه او ماشومان) باندې وېشل کېږي او له هرې کټه‌گورۍ د افغان سرې میاشتې ټولنې رضاکار کارکوونکي تحقیق کوي. د یادولو وړ ده چې له ښځینه سوالگرو د افغان سرې میاشتې ښځینه رضاکارانې تحقیق کوي.

تر تحقیق وروسته راټول شوي سوالگر بایومیټریک کېږي، هغه کسان چې مستحق وپېژندل شي د کور آدرس او د اړیکو شمېرې ترې اخیستل کېږي او یوه ورځ وروسته د افغان سرې میاشتې له لوري هیئت ورځي، د سیمې له وکیل، د مسجد له امام او یا هم ګاونډیانو یې د وضعیت پوښتنه کېږي، که چېرې غریب او مستحق ثابت شي د کورنۍ هر غړي ته یې یو کارت ورکول کېږي، چې په میاشتني ډول د اړوندو ارگانونو له لوري ورته د في نفر پر سر 2000 افغانۍ د بانک له لارې ورکول کېږي.


هغه سوالگر چې حرفوي او یا هم

سـازماني وپېژندل شي تـر بايوميټريک وروسته تضمين ترې اخيستل کېږي، چې بيا بــه دا کار نه کوي. که چېرې بياځلې پر دغه کار مرتکب ونيول شي، د افغانستان اسلامي امارت د کابينې د پرېکړې پر اساس پينځه ورځې بندي کېږي او بيا به ښه قوي ضمانت ترې اخيستل کېږي.

هغه کسان چې د کار کولو توان لري او يو کســب يې زده وي، د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري ورته په اړوندو برخو کې د کار کولو زمينـــه برابرېږي او له دوی هم تضمين اخيستل کېږي، چې بيا به په ښار کې سوال نه کوي.

بې سرپرســته ســوالگر ماشــومان بيا له بايوميټريــک وروســـته د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخلېږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعليم زمينه برابرېږي، چې تر اوســه پــورې 70 دا ډول ماشــومان روزنتون ته داخل شوي دي.

## انفوگرافيک:






بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو

# په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی

بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د روان 1401 لمریز کال په لومړیو لسو میاشتو کې 1700 میلیون ډالرو په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي چې دا د هېواد په تاریخ کې یو بې سارې گام دی.

تر دې مهاله پاکستان، هند، تاجکستان، ایران، متحده عربي امارتو، ازبکستان، عراق، قزاقستان، چین او سعودي عربستان ته 97 سلنه او پاتې 3 سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو 65 سلنه جوړوي، هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انگور، انار، رومي بانجان، ممیز، وچ انځیر، جلغوزي، زردالو او پاتې 35 سلنه نور بېلا بېل صادراتي توکي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېر 1400 لمریز کال د رسمي ثبت شویو توکو د صادراتو ارزښت 850 میلیون ډالره و خو د روان 1401 کال په لومړیو لسو میاشتو کې د هېواد د صادراتو کچه 1700 میلیون ډالرو ته رسېدلې، که چیرې د صادراتو بهیر همداسې روان وي، په روان کال کې به د صادراتو کچه دوو میلیاردو ډالرو ځخه لوړه شي او د تېر کال په پرتله به دوه برابره زیات شي.

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په هڅو؛ د پانگونې له پاره خوندي چاپېریال رامنځته شوی، د صنعتي پارکونو جوړولو له پاره هڅې روانې دي، د پالیسیو، کړنلارو او تگلارو پر چمتو کولو عملي کار پیل شوی، د لویو لارو د بیارغونې او د ریل پټلی له لارې د سیمې او گاونډیو هېوادونو سره د هېواد نښلولو چارې په چټکۍ سره دوام لري، ترڅو په نړیواله سوداگرۍ کې د افغانستان ونډه زیاته شي.

## انفوگرافیک


**بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی**

افغانستان د 1400 لمریز کال په لومړیو 9 میاشتو کې د 478 میلیون ډالرو په ارزښت صادرات درلودل، خو د 1401لمریز کال په لومړیو 10 میاشتو کې بیا د یو میلیارد او 700 میلیون ډالرو په ارزښت توکي بهر ته صادر شوي دي.


















# ناستې او ډیپلوماټیکې لیدنې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د ټاپي ګاز نل‌لیکي کمپنۍ له اجرائیوي رئیس سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د ټاپي ګاز نل‌لیکي کمپنۍ له اجرائیوي رئیس ښاغلي محمد مراد امانوف او د افغانستان لپاره د ترکمنستان له سفیر سره وکتل.

په دغه لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د ټاپي پروژې د هوکړه شویو مواردو پر عملي کولو او د پروژې د عملي چارو د بهیر پر پیل هر اړخیزې خبرې وکړې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان اوسنی وضعیت یو ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د ټاپي پروژې د پیل لپاره پوره چمتووالی لري او په دغه برخه کې هر ډول همکارۍ ته تیار دی.

د ټاپي ګاز نل‌لیکي کمپنۍ اجرائیوي رئیس له محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند څخه منندوي وکړه، چې د افغانستان له لوري د ټاپي پروژې د رهبرۍ کمېټې مشري کوي. نوموړي وویل، په نږدې راتلونکي کې به د دولتونو په سطحه د ټاپي پروژې د رهبرۍ کمېټې غونډه په عشق‌آباد کې ترسره شي.



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال

# د چین له سفیر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان له پاره د چین ولسي جمهوریت له سفیر ښاغلي وانګ یو سره وکتل.

په دې لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان او چین ترمنځ د سترو اقتصادي پروژو د هوکړه شویو مواردو پر عملي کولو او د دغو پروژو د عملي چارو پر پیل هر اړخیزې خبرې وکړې.

محترم ملاصاحب وویل، چین او افغانستان تاریخي اړیکې لري او اسلامي امارت د دغو اړیکو لا پراختیا غواړي، چین په نړیوال اقتصادي فورم کې اوسمهال تر ټولو ښه ځای لري او اسلامي امارت د چین له حکومت څخه غواړي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. د هغه په خبره، افغانستان پراخې طبیعي زېرمې لري او اوسمهال په افغانستان کې یو خوندي چاپېریال رامنځته شوی دی. ښاغلي ملا صاحب همدا راز له چین هیواده وغوښتل چې افغانستان دې د «یو کمربند او یوه لار» پروژه کې ور داخل کړي.

د چین لوی سفیر وانګ یو د خپلو خبرو پر مهال وویل، چین له افغانستان سره د خپلو اړیکو پراختیا غواړي او په هر حالت کې د نوي حکومت ملاتړ کوي. د هغه په خبره، چین په همدې موخه په پلان کې لري چې ډېر ژر به په هغو پروژو چې د چین له لوري پیل شوې وې، عملي کار پیل کړي او همدارنګه هغه نورې لویې پروژې چې د نړیوال بانک یا هم د آسیا پراختیایي بانک له لوري تمویلېدې او اوس نیمګړې پاتې دي، غواړي بشپړې کړي. د نوموړي په خبره دوی د افغانستان اسلامي امارت څخه غواړي، هغه پروژې چې دوی ته لومړیتوب لري، له دوی سره دې په اړه معلومات شریک کړي، تر څو دوی په دې برخه کې د پانګونې له پاره پلان جوړ کړي.

د چین سفیر زیاته کړه، هیواد یې چمتو دی چې د افغانستان اسلامي امارت سره خپلو دوه اړخیزو همکاریو او اړیکو ته دوام ورکړي او په دې برخه کې به له هېڅ راز هلو ځلو ډډه ونه کړي.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

# د قرغیزستان ولسمشر له ځانګړي استازي سره وکتل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د قرغیزستان ولسمشر له ځانګړي استازي طلعت بېک مصدقاف په مشرۍ له راغلي پلاوي سره وکتل. په دې لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان او قرغیزستان ترمنځ په سیاسي، اقتصادي او روغتیايي برخو کې پر همکارۍ خبرې وکړې. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي لرغونو اړیکو یادونه وکړه او د دوه اړخیزو اړیکو تقویت یې مهم وباله.

نوموړي له قرغیزستان سره د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د ټینګښت په برخه کې د اسلامي امارت له لوري د لا زیاتې همکارۍ ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې د افغانستان اسلامي امارت به هېڅ ډلې ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان خاوره د بل هېواد پر ضد وکاروي.

د قرغیزستان ولسمشر ځانګړي استازي ښاغلي طلعت بېک مصدقاف په افغانستان کې په بشپړ امنیت خوښي وښوده او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د دوه اړخیزو اړیکو پیاوړتیا ته په اشارې د افغانستان له روغتیايي سکتور سره د لازمې همکارۍ ژمنه وکړه.





## د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مس عینک پروژې د قراردادي شرکت MCC له اجرائیوي مرســـتیال ښاغلي اوو مین سره په خپل کاري دفتر کې وکتل

په دې لیدنه کـې دواړو لورو د مس عینک پروژې د هوکړه شـویو مواردو پر عملي کولو او ددې پروژې د عملي چارو پر پیل هر اړخیزې خبرې وکړې.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د افغانســتان اوســنی وضعیت یو ښه فرصت وبالــه او زیاته یې کړه، چې د افغانســتان اسـلامي امارت د مس عینــک پــروژې د پیل له پـاره پوره چمتووالی لري او په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

وریســې د MCC شرکــت اجرائیوي مرستیال ښاغلي اوو مین هم د پروژې چارو د پیل په برخه کې د محترم ملا صاحب له هلو ځلو مننه وکړه او ویې ویل، چې د عینک له سـیمې څخه د لرغونو اثارو تر بشپړ لېږد وروسته به په عملي توګه خپلې چارې پیل کړي.







## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند
## د بدخشان ولایت له یوشمېر علماوو، قومي مخورو او استازو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د بدخشان ولایت له یوشمېر علماوو، قومي مخورو او استازو سره وکتل. په دې لیدنه کې د اقتصاد وزارت محترم وزیر قاري دین محمد حنیف او لوی څارنوال محترم مولوي شمس‌الدین شریعتي هم ګډون درلود.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د شل کلن اشغال د ختم او د اسلامي نظام راتلو لپاره د بدخشان ولایت د اوسېدونکو او مجاهدینو قربانۍ بې ساري وبللې او زیاته یې کړه، د الله تعالی په نصرت سره اوسمهال په افغانستان کې یو خپلواک اسلامي نظام حاکم دی، چې ټول افغانان یې تر حاکمیت لاندې په ارامۍ سره ژوند کوي.

په دغه لیدنه کې مولوي مجیب‌الرحمن د نورو په استازیتوب وویل، چې د بدخشان ولس په خپل ټول توان سره په هر حالت کې د افغانستان اسلامي امارت څخه اطاعت او ملاتړ کوي.

نوموړي همدارنګه د بدخشان ولایت د اوسېدونکو ستونزې هم د حل په موخه شریکې کړې.

ملا عبدالغني برادر اخوند د بدخشان ولایت علماوو او قومي مخورو ته ډاډ ورکړ، چې د نورو ستونزو د حل تر څنګ به په دغه ولایت کې روغتیایي خدماتو ته د رسېدو په موخه شته روغتون ته هم وسعت ورکړي.



## د ملي تدارکاتو کمېسیون لومړۍ غونډه

### د ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه

د ملي تدارکاتو کمېسیون لومړۍ غونډه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د غونډې په پیل کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د ملي تدارکاتو کمېسیون رئیس الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند خبرې وکړې او د غونډې له ګډونوالو یې ددې ملي او مهمې پروسې پرمخ بېولو کې د ګډې همکارۍ غوښتنه وکړه. ورپسې د ملي تدارکاتو ریاست د مسوولینو له لوري ددې ریاست په اړه معلومات د غونډې له ګډونوالو سره شریک شول. د غونډې په بله برخه کې د 13 قراردادونو او تدارکاتي موضوعاتو په اړه خبرې وشوې. په یادو قراردادونو کې چې د مالیې وزارت، عامې روغتیا وزارت، کابل ښاروالۍ او برېښنا شرکت له لوري ملي تدارکاتو ریاست ته وړاندې شوي وو، د 7 پروژو قراردادونه د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري منظور، د یوې پروژې قرارداد معطل او د پاتې 5 پروژو قراردادونه چې د فسخې غوښتنه یې شوې وه، فسخه شول.

دغه قراردادونه د توکو د خریدارۍ په ګډون د خدماتو او بیارغونې په اړه وو. د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې له دې وروسته هېڅ اداره نه شي کولای د ملي تدارکاتو کمېسیون له منظورۍ پرته خپلې اړوندې پروژې په قرارداد ورکړي. ټولې ادارې مکلفې دي چې د خپلو پروژو قراردادونه د ملي تدارکاتو ریاست له لارې د ملي تدارکاتو کمېسیون له منظورۍ وروسته لاسلیک کړي.



### د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ

# د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. په پیل کې د غونډې له اجنډا سره سم پر یو لړ موضوعاتو بحث وشو چې له جملې یې له شهزاده سرای سره نږدې د ځمکې د ملکیت او پر هغه د سوداګریز مرکز جوړولو موضوع مطرح شوه. په دې اړه تر هر اړخیز بحث او خبرو وروسته پرېکړه وشوه چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د سرپرست په مشرۍ، د کور او ښار جوړولو وزارت او کابل ښاروالۍ مسلکي انجنیران دې د اقتصادي معاونیت، مالیې وزارت او د پانګونې د تسهیل ریاست د استازیو په حضور کې  د یاد سوداګریز مرکز د ودانۍ جوړولو نقشه په هر اړخیز ډول وڅیړي او د خپلو څېړنو په اړه دې اقتصادي کمېسیون ته راپور وړاندې کړي. ورپسې د ډبرو سکرو او په کانونو پورې اړوندو موضوعاتو د څېړنې په موخه بلخ او سمنګان ولایتونو ته د استول شوي پلاوي راپور واورېدل شو چې له بحث وروسته تایید شو. د دغه راپور په اړه تر هر اړخیز بحث وروسته د اقتصادي کمېسیون له لوري اړوندو وزارتونو او ادارو ته دنده وسپارل شوه چې په راپور کې د شویو وړاندیزونو د پلي کېدو په موخه دې عملي پلان چمتو او د خپلو اجراآتو په اړه دې اقتصادي کمېسیون ته راپور وړاندې کړي. دغه راز تصمیم ونیول شو چې د کانونو او پټرولیم وزارت د یو معین په مشرۍ دې په ولایتونو کې د مرکزي وزارتونو او ادارو د اړوندو ریاستونو څخه یوه ګډه کمېټه جوړه شي، څو د کانونو ټولې اړوندې چارې وڅاري. د غونډې په بله برخه کې د ډبرو سکرو د استخراج او قراردادونو د چمتو شوې طرحې په اړه خبرې وشوې، پرېکړه وشوه چې د کانونو او پټرولیم وزارت دې  پر یاده طرحه چې له مخکې یې چمتو کړې، د بلخ او سمنګانو ولایتونو ته د استول شوي ګډ پلاوي د راپور په رڼا کې له سره کتنه وکړي  او له هغې وروسته دې له اقتصادي معاونیت سره شریکه کړي. د غونډې په پای کې د مس عینک په کان کې د شته لرغونو اثارو د لېږد په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پر چمتو شوې طرحه بحث او په دې اړه اړوندو مسوولینو ته لازمې لارښوونې وشوې.



### د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ

# د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

په پیل کې د غونډې له اجنډا سره سم پر یو لړ موضوعاتو بحث وشو چې له جملې یې د کمال خان بند اړوند د کانالونو پاتې چارې به د ملي پراختیا شرکت له خوا د شوي قرارداد له مخې بشپړیږي او د بند د پاتې چارو له تکمیلېدو وروسته به د ځمکو وېش په اړه تصمیم نیول کیږي. همدارنګه پرېکړه وشوه، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې د ا.ا.ا له خوا یوه رسمي اعلامیه ترتیب کړي او د ملي راډیوتلوېزیون او سیمه ییزو راډیوګانو له لارې دې ولس ته دا وضاحت ورکړل شي چې د قوش‌تېپې کانال او نورو کانالونو اړوند د ځمکو د توزیع په اړه رواني ګنګوسې حقیقت نه لري او هېڅوک حق نه لري چې د یادو کانالونو اړوند د ځمکو په حساب له چا سره د توزیع معامله وکړي او یا په دې نامه له خلکو څخه پیسې او اسناد راټول کړي. که چا د کانالونو د ځمکو د وېش په نامه له ولس څخه پیسې یا اسناد واخیستل، د حکومت له خوا به د جدي او قانوني چلند سره مخ شي. ورپسې په هېواد کې د ذخیروي بندونو د تخریب او ماتېدلو د مخنیوي، ساتنې او پاملرنې په پار پرېکړه وشوه، چې د اوبو او انرژۍ وزارت دې له مالیې وزارت سره په ګډه کار وکړي او هغه بندونه دې په نښه کړي چې بېړني ترمیم ته اړتیا لري او بیا دې د ملي بودیجې له لارې د دې بندونو د ترمیم، ساتنې او څارنې لپاره موضوع د وروستۍ پرېکړې په پار اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. د غونډې په بله برخه کې د شرکتونو د تضميناتو، تامیناتو او طلباتو د ورکړې پر څرنګوالي بحث وشو او پرېکړه وشوه، چې د اقتصادي کمېسیون د 1443هـق کال د رمضان المبارک د 23 مې نېټې د شپږمې مصوبې د فیصلې پر اساس، د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، مالیې وزارت او د افغانستان بانک له خوا د نورو اړوندو وزارتونو، ادارو او خصوصي سکتور



سره په مشوره د خصوصي شرکتونو د تضميناتو، تاميناتو او طلباتو د استرداد څرنګوالی تایید دی. د کابينې له تایيد وروسته دې د ماليې وزارت او د افغانستان بانک له نورو ارګانونو سره په همکارۍ د يادو تضميناتو، تاميناتو او طلباتو د ورکړې څرنګوالی د ترتيب شويو موادو مطابق اجرا کړي. همدارنګه په ياده غونډه کې د هلمند د زمينداور کانال پروژې په اړه هم بحث وشو. تر بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت په همغږۍ او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په مشرۍ د اوبو او انرژۍ وزارت، کانونو او پټروليم وزارت، ملي پراختيا شرکت او چاپېريال ساتنې ملي ادارې يوه ګډه تخنيکي کمېټه دې د زمينداور کانال په اړه يو ځل بيا څېړنې وکړي او هلته دې د اوبو د زېرمو په پام کې نيولو سره د پروژې د امکان سنجۍ او قيمت ټاکنې په ګډون ترسره شويو مطالعاتو ته له سره کتنه وکړي. د خپلو موندنو راپور دې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي. د غونډې په پای کې د هرات په ګمرک او اسلام کلا بندر او همدارنګه د هېواد په نورو ګمرکونو او بندرونو کې له 2010څخه د ټيټ ماډل موټرو او همدارنګه د ښي لاس هغو موټرو چې تېرې ادارې د پنځو کالو اسناد ورکړي وو، خو وخت يې پوره شوی دی او تېرې ادارې ضبط کړي دي، همداراز هغه موټر چې ترافيکي پېښې يې کړې دي او تېرې ادارې ضبط کړي دي؛ د دغو ټولو موټرو په اړه پرېکړه وشوه، چې د افغانستان اسلامي امارت د کابينې د 1443 هـق کال د 27مې مصوبې د فيصلې پر اساس، د هېواد په ګمرکونو کې د درول شويو او نورو نامحصول شويو موټرو د محصول کولو او د ترانسپورتي ستونزو د حل په موخه دې د ا.ا.ا د ترانسپورتي چارو تنظيم کمېسيون له خوا د برابر شوي راپور پر اساس جوړه شوې طرح تطبيق او عملي شي او اړونده چارې دې د ټاکل شوي هيئت له خوا تعقيب شي.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

### د افغانستان په چارو کې د ایران ولسمشر له ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ایران سفارت سرپرست حسن کاظمي قُمي په مشرۍ پلاوي سره وکتل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان په چارو کې د ایران ولسمشر له ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ایران سفارت سرپرست حسن کاظمي قمي په مشرۍ پلاوي سره وکتل. په دې لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان او ایران ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي اړیکو او په ایران کې د افغان کډوالو د وضعیت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان اوسنی وضعیت د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډې همکارۍ د زیاتوالي له پاره یو ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د کانونو، انرژۍ او کرنې په برخه کې د ایران اسلامي جمهوریت له خوا د پانګونې له پاره هر ډول همکارۍ ته چمتو دی. د ایراني پلاوي مشر حسن کاظمي قمي په افغانستان کې رامنځته شوی وضعیت بې مخینې یاد کړ او زیاته یې کړه، چې له دې وضعیت څخه باید خپله افغانان او د سیمې هېوادونه په ښه ډول ګټه پورته کړي. نوموړي زیاته کړه چې دوی چمتو دي، له افغانستان سره په اقتصادي ډګر کې همکاري وکړي. قُمي وویل، چې ایران د کانونو په استخراج او کرنه کې په کافي اندازه تجربه لري او دوی چمتو دي چې خپلې عملي تجربې له افغانانو سره شریکې او په دې برخه کې عملاً پانګونه وکړي. په یاده ناسته کې دواړو لورو په ایران کې د مېشت افغان کډوالو د وضعیت په اړه هم خبرې وکړې، محترم ملا صاحب د افغان کډوالو په حق د ایران له کوربه توب څخه مننه وکړه او د دواړو لورو د اړیکو پر پیاوړتیا یې ټینګار وکړ. په پای کې دغه ناسته مثبته او د اړیکو د لا پیاوړتیا او اقتصادي پرمختیاوو وسیله وبلل شوه او ددې ډول ناستو د جوړېدو پر دوام ټینګار وشو.









# د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې

# د افغانستان په ملي اقتصاد کې
# د کورني صنعت ونډه

فضل ولي شيراني

د شل کلن امريکايي اشغال له پای ته رسېدو او د افغانستان اسلامي امارت په راتگ سره، لکه څنگه چې په ټول هېواد کې پوره امنيت تأمين شو، داسې د افغانستان د اقتصادي وضعيت د پياوړتيا لپاره هم هيلې زياتې شوې دي.



کورنۍ صنعت د هېوادونو په اقتصادي وده کې ستره ونډه لري، څومره چې یو هېواد پیاوړی او ډېر کورنی صنعت ولري، دومره یې اقتصادي وضعیت هم ښه وي. د نورو هېوادونو په شان د افغانستان په اقتصادي وده کې هم د کورني صنعت ونډه مهمه ده. سره له دې چې افغانستان د بشري ځواک، طبیعي زیرمو او سرچینو، کانونو او ځنګلونو له اړخه یو غني هېواد دی او له دې هر څه نه د صنعت په برخه کې پوره ګټه پورته کېدای شي؛ خو د تېرو څه باندې څلورو لسیزو جګړو د نورو برخو په شان زموږ د هېواد دا برخه هم اغېزمنه کړې ده.

همدا راز په تېرو دوو لسیزو کې د آبادۍ او بیارغونې په نوم افغانستان ته میلیاردونه ډالر راغلل؛ خو د افغانستان پر آبادۍ ونه لګېدل او نه هم د افغانستان اقتصادي وضعیت ورسره ښه شو. موږ وینو چې لا هم میلیونونه افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. تازه چې د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره هېواد ته سوله، امن او خوښي راغلې؛ ترڅنګ یې د ملي اقتصاد او کورني صنعت د ودې او پرمختګ په برخه کې هم هېلې زیاتې شوې دي.

دا چې صنعت د هېوادونو په اقتصادي پیاوړتیا کې څه رول لري، د افغانستان په ملي اقتصاد کې د کورني صنعت رول څه دی او د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره د کورني صنعت د ودې لپاره تر دې دمه څه کارونه ترسره شوي؟ ټول هغه مسایل دي، چې په دې لیکنه بحث ورباندې شوی دی.



## د افغانستان
## د ملي اقتصاد سرچينې

افغانستان په وچه کې را ګير هېواد دی، چې کمې اقتصادي سرچينې لري. د دې هېواد د ډېرى خلکو اقتصاد په کرنه او مالدارۍ ولاړ دی؛ خو له بده مرغه د بېلابېلو لاملونو له وجې د دغه هېواد د کرنې سکټور هغسې وده نه ده کړې، چې لږ تر لږه د خپلو خلکو اړتياوې پوره کړي. کانونه د افغانستان د اقتصاد هغه بل فکټور دی، چې د دغه هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې ډېره تمه ورته کېږي. د کانونو په اړه د نړېوالو ادارو څېړنې ښيي، چې دا هېواد د ګازو، نفتو، ډبرو سکرو، طلا، نقرې، لاجوردو، مسو، اوسپنې او نورو طبيعي عناصرو کانونه لري. همداراز د امريکا د متحده اياالاتو د ځمکپوهنې ادارې د هغو پنځهکلنو څېړنو پر بنسټ چې له 2006م کال نه تر 2010م کال پورې ترسره کړې دي، په ټوليزه توګه د افغانستان د کانونو مادي ارزښت ميلياردونه ډالر اټکل شوی دی.

خو له دې پرېمانه طبيعي سرچينو او کانونو څخه په تېرو څو لسيزو کې د جګړو، يرغلونو، اداري فساد او کمزورې حکومتولۍ له کبله د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره ګټه نه ده پورته شوې. پر افغانستان د امريکا او ناټو تر يرغل وروسته د رامنځته شوي نظام په دوره کې ډېرى کانونه په ناشفافه توګه په قرارداد ورکول کېدل. او په ځينو سيمو کې کانونه د زورواکو له لوري په ناقانونه او نامسلکي توګه استخراجېدل. د بېلګې په توګه د بدخشان د طلا او د سرپل د بلخاب د مسو کان قراردادونه يادولی شو، چې د 2018م کال د اکتوبر په 5 نېټه له دوو امريکايي او برېټانوي شرکتونو سره له افغانستان څخه بهر په واشنګټن کې لاسليک شول، چې هغه مهال خلکو ډېرې نيوکې پرې وکړې.

پر دې سربېره ټرانزيټ او سوداګري هغه څه دي، چې د افغانستان په اقتصادي وده او عوايدو په لوړاوي کې مهم رول لري. افغانستان د خپل ستراتېژيک جغرافيايي موقعيت له امله د هغو هېوادونو له ډلې ګڼل کېږي، چې کولای شي د ټرانزيټ له لارې ډېر عوايد ترلاسه کړي؛ خو په افغانستان کې د دې برخې نامؤثريت د ناوړه سيمهييزې سيالۍ، د ټرانزيټي بنسټونو د نشتوالي، کمزورې حکومتولۍ، په دولتي ادارو کې د پراخ فساد او داسې نورو مواردو پورې تړل کېږي.

په تېرو دوو لسيزو کې په نړېوالو غونډو کې تر ډېره د افغانستان ستراتېژيک موقعيت په ځانګړې توګه د ورېښمو سوداګريزه لار د شعار تر حده ياده شوې؛ په داسې حال کې چې په ابتکاري ډول د وخت د حکومت له خوا په دې برخه کې عملي ګامونه نه دي اخيستل شوي. په دې برخه کې پکار ده، چې د سيمې په کچه د ټرانزيټ او ټرانسپورټ په برخه کې د افغانستان جيوستراتېژيک او جيوايکانوميک موقعيت ژوندی شي.



# د افغانستان په اقتصاد کې د صنعت ځای









په وچه کې راګیر افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت له مخې د نړۍ لپاره یو مهم هېواد دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د سترو تمدونونو مرکز پاتې شوی دی. افغانستان هغه هېواد دی چې د ورېښمو لرغونې سوداګریزې لارې په وسیله یې د هند، چین، اروپا او عربي نړۍ هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او اقتصادي راکړې ورکړې په برخه کې مهم رول درلود او د دې سوداګرۍ او اقتصادي راکړې ورکړې په خاطر د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان دننه بېلابېلو صنعتونو وده کړې ده. د بېلګې په توګه د آریایانو د کرنې صنعت، د کوشانیانو د ډبرو د توږلو صنعت، د تیموریانو او د منځنیو پېړیو د نورو واکمنیو د نقاشۍ، کاشي کارۍ، کنبد جوړونې او میناتورۍ صنعتونه یادولی شو.

افغانستان د صنعت په برخه کې اوږده مخینه لري. زرګونه کاله وړاندې په لرغوني باختر کې صنعتکارانو له سرو او سپینو زرو، مسو او اوسپنې څخه رنګارنګ شایسته ګاڼې جوړولې. همدارنګه له سرو او سپینو زرو د کمربندونو، د اسونو نعلونو، د غالۍ اوبدلو، وړینو جامو، ټغر، پوستینچو، قره قل، میسي او خاورینو لوښو جوړول، هغه بېلابېلو صنعتونه دي چې افغانانو لوی لاس پکې درلود او دې ټولو د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهمه ونډه لرله؛ خو په دغو ټولو تاریخي پړاوونو کې د افغانستان اقتصاد تر ډېره د ناامنیو، کورنیو جګړو او بهرنیو استعمارګرو د یرغلونو له کبله اغېزمن شوی دی. د چنګیز خان خونړیو تاړاکونو، په نولسمه پېړۍ کې د انګریزانو یرغلونو او په شلمه پېړۍ کې د شوروي یرغل او ورپسې د امریکا او ناټو یرغل په اقتصادي برخه کې پر افغانستان ډېرې بدې اغېزې وښیندلې.





# کورني صنايع


کورني صنايع د افغانستان په ملي اقتصاد کې ځانګړی ځای لري. په بېلابېلو تاريخي دورو کې د افغانستان په اقتصاد کې کورني صنعت، په ځانګړې توګه کورنيو لاسي صنايعو ځانګړی رول درلودلی دی. په ټوله کې د افغانستان کورني صنايع په دوه برخو وېشلی شو: لومړی لاسي صنايع او دويم ماشيني صنايع.

## ١) لاسي صنايع


د افغانستان په لاسي صنايعو کې د غالۍ اوبدلو، وړۍ اوبدلو، ټغر جوړولو، نقاشۍ، ميناتورۍ، نجارۍ، کولالۍ، بوټ جوړولو، جامو جوړولو او نور صنعتونه راځي، چې د افغانستان په صادراتو کې د پام وړ ونډه لري. له دې ډلې څخه د غالۍ اوبدلو صنعت د افغانستان يو لرغونی صنعت دی او زرګونه کاله مخينه لري، چې ريښه يې آن آريايي تمدن ته رسيږي. غالۍ د افغانستان په صادراتي توکو کې يو مهم قلم دی، چې د افغانستان په عوايدو کې غوښنه ونډه لري. د افغانستان غالۍ د نړۍ له باکيفيته او ښايسته غاليو څخه دي، له همدې امله په نړيوالو مارکيټونو کې ښه بازار لري.







## ۲ ماشيني صنايع









د افغانســتان پــه کورنيــو صنايعو کې دويمه برخه ماشــيني صنايــع دي او دا هغه صنايع دي، چې د ماشــين په مټ توليديږي. افغانســتان که څه هم د دې ډول صنايعــو له اړخه کمزوری دی؛ خو بيا هم په دې برخه کې د سيمنټو، بورې، غوړيو، پلاستيکي پايپونو، لوښو، درملو او داسې نورو موادو صنعت يې د يادولو دی.

په ټوله کې د افغانســتان کورني صنايع (لاسي او ماشــيني صنايع) هغه څه دي، چې په وده او د پېــر لپاره يې په نړيواله کچه د بازار په موندلو سره کولای شــو، چې د افغانســتان اقتصاد پياوړی کړو او هــم د خلکو لپــاره د کار روزګار زمينه برابره کړو.



# اسلامي امارت

## او

### د افغانستان اقتصادي راتلونکی



هر هېواد د خپل ملي اقتصاد د پیاوړتیا، ودې، پراختیا او پرمختیا لپاره له بېلابېلو میکانیزمونو کار اخلي. ځینې هېوادونه د خپلو طبیعي زېرمو په واسطه خپل اقتصاد پیاوړی کوي، ځینې د صنعت د ودې له لارې او ځینې یې د کرنې سکتور د ودې له لارې.

اوس پوښتنه داده چې د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره څه کول پکار دي؟ دا هغه پوښتنه ده، چې له کلونو راهیسې زموږ د هېواد سیاستوالو، اقتصادپوهانو او د نظرخاوندانو پرې فکر کړی، خو ټولو د افغانستان د جغرافیایي موقعیت او نورو شته امکاناتو له مخې په غوڅ اکثریت دا یوه خبره کړې، چې په دغه هېواد کې د صنعت د ودې لپاره د وړ ظرفیتونو او خامو موادو نشتوالي، د تولیدي فابریکو فعالیت صفر کړی دی. همدارنګه د فني کسانو نشتوالی هم د دې لامل ګرځېدلی، چې کاني زېرمې مو په بشپړ ډول ترخاورو لاندې پاتې شي.

د تاریخ په اوږدو کې چې ځینې حکومتونو تر یوه بریده د صنعت په برخه کې کار کړی، هغه د کورنیو جګړو او بهرنیو یرغلونو له امله له خاورو سره خاورې شوی دی. د دغو جګړو له کبله نه کومه تولیدي فابریکه پاتې شوې او نه هم هغه لاسي صنایع چې د افغانستان اقتصاد ته یې تر یوه بریده اوږه ورکوله. زموږ د لاسي صنایعو له برخې یو مهم توکی افغاني غالۍ وې، چې تر دې وروستیو پورې د ګاونډیو هېوادونو په نوم بهر ته صادرېدې. د جنګلک، د بګرامیو او ګلبهار د ټوکر اوبدلو فابریکې، چې آن ماشینونه یې هم په کباړ کې وپلورل شول او هر څه یې له منځه لاړل.

له 2001م کال وروسته د امریکا او ناټو د یرغل په نتیجه کې رامنځته شوي حکومت په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان د ابادۍ او بیارغونې په نوم په میلیاردونه ډالر ترلاسه کړل؛ خو د اقتصاد په برخه په تیره بیا د تولید او صنعت په برخه کې یې هېڅ راز لاسته راوړنه نه درلوده. کومې تولیدي فابریکې چې د شخصي پانګونو په مرسته جوړې شوې وې، د هغو لپاره د کمزورې او فاسدې حکومتولۍ په وجه خنډونه جوړېدل او په لوی لاس یې د دې فابریکو د پراختیا مخه نیوله، چې د دې وضعیت د دوام له امله ډېری فابریکې بېرته وتړل شوې.

د یوه هېواد اقتصادي وضعیت نه یوازې دا چې پر نورو سکټورونو اغېزې کوي، بلکې په اوسنۍ نړۍ کې د حکومتونو دوام، ښه حکومتولي او پیاوړې اداره هم هغه موارد دي چې اقتصادي وضعیت پر متکي وي. افغانستان د تاریخ په بېلابېلو دورو کې اقتصادي هلې ځلې کړې دي؛ خو د هلو ځلو پایلې تر ډېره له دې کبله منفي وې، چې مرکزي حکومتي نظام به یا خپلواک نه ؤ او یا به یې ډېر دوام نه کړ.

تازه د شل کلن امریکایي اشغال له پای ته رسېدو او د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره، لکه څنګه چې په ټول هېواد کې پوره امنیت تأمین شو، داسې د افغانستان د اقتصادي وضعیت د پیاوړتیا لپاره هم هیلې زیاتې شوې دي. په داسې حال کې چې د افغانستان د خلکو 9 میلیارده پانګه د امریکا له لوري برمته ده او د افغانستان اسلامي امارت له ځینو اقتصادي بندیزونو سره مخ دی،

خــو بیا هم پــه هېواد کــې د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره هڅې، تر بل هر وخت زیاتې شوې دي.

اسلامي امارت له شــته محدودو امکاناتو څخه پــه اســتفادې هڅه کــړې، چې د افغانســتان اقتصاد په پښو ودروي. په دې برخه کې یې یو لړ ســترې اقتصادي پروژې پیل کړې، لکه: د قوش تېپې کانال پیلېدل، د کانونو قانوني استخراج، د هېواد په شمال کې د ډېرو سکرو کانونه او د تېلو په برخه کې د قشقري بلاک یادونه کولی شو. همدارنگه د برېښــنا د تولید په برخه کې چې صنعتي چارې ټولې ور پورې تړلې دي، د کجکي بند د دویم فــاز رغول او گټې اخیســتنې ته ســپارل؛ د صنعت او تولید په برخه کې د پیروزي ښارگوټي د صنعتي پارک جوړول او نور هغه موارد دي چې مورډ یې د بېلگې په توگه وړاندې کولی شو.

د اســلامي امارت په راتگ د تېر په پرتله فساد خپلې وروستۍ کچې ته راټیټ شوی دی. د صنعتکارانو او ســوداگرو لاسنیوی کېږي، د صنعــت او تولید په برخه کې د برېښنا کمښــت یوه لویه ستونزه وه، چې اسلامي امارت د دغه ســتونزې د دایمي حل لپاره هڅه کوي. د اوسپنې ویلې کولو فابریکو د تولیــد د زیاتوالي په موخه له هېواده بهر ته د هر ډول داغمه اوسپنو او اوســپنیزو توکو وړل بند شوي دي. دا او دې ورتــه نورې لویې او وړې چارې، ټول هغه څه دي چې د افغانســتان اســلامي امارت د هېواد د ملي اقتصاد د پیاوړتیا په موخه له تېر څه باندې یوه کال راهیســې ترسره کــړي دي او د دې مخلصانه هڅو دوام به ان شاءالله راتلونکی افغانستان به پرمختللی او پر ځان بسیا کړي.





## پایله

افغانســتان د خپل ملي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره، ارزښــتناک جغرافیایي موقعیت، پرېمانه او قیمتي کانونه چې مادي ارزښت یې څو ټرېلیون ډالرو ته رســېږي، نفت، گاز، لیتیــم، کرومایټ، خــوړې اوبه، د کرنې لپاره پراخې سیمې او د توریزم لپاره ښایسته او زړه راښکونکي ځایونه لري. په تېرو لسیزو کې له دې ټولو څخه د بهرنیو یرغلونــو، اداري فســاد او کمــزورې حکومتولــۍ لــه کبلــه د افغانســتان د اقتصــادي ودې په موخه گټه نه ده پورته شوې.

اوسمهال چې د افغانستان اسلامي امارت په راتگ سره په افغانســتان کې یو قوي مرکزي حکومت رامنځته شوی او په ټول هېواد کې پوره امــن دی، اړتیا ده چې د افغانســتان د اقتصــادي ودې لپــاره مخلصانــه هڅــې وشي. کــه چېــرې د افغانســتان لــه جغرافیایــي موقعیت، کانونو او نــورو طبیعــي زېرمو څخه د منظــم پلان پر اســاس، په مســلکي او قانوني بڼه گټه پورته شي، افغانســتان به په نږدې راتلونکي کې د ســیمې په کچه د یوه پیاوړي اقتصاد لرونکی هېواد وي.

د کرنېزو توکو په برخه کې د افغانســتان وچــه او تــازه مېــوه، طبــي بوټي او سبزیجات هغه څه دي چې د دې هېواد د صادراتو یوه غوښــنه برخه جوړوي. تېر کال کرنې د افغانستان د کورني ناخالص تولید (GDP) د ټولیز ارزښت 33.48 سلنه جوړوله چې دا یوه لوړه کچه ده.

# سپارښتنې

دا ټولو ته جوته ده چې اسلامي امارت د هېواد سوکالۍ او پرمختګ ته ژمن دی. هغه ستونزې چې د پرمختګ پر وړاندې راولاړيږي او دا بهير ټکنی کوي، تر ډېره بريده له منځه تللې دي، لکه: ناامني، اداري فساد، خپلسري او زورواکي. نن سبا ټول افغانان کولای شي له توپير پرته د افغانستان په پرمختګ کې ونډه واخلي او د افغانستان کمزوری اقتصاد او له پښو لويدلی صنعت بېرته په پښو ودروي؛ خو د دې هرڅه سربېره د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره لاندې څو موارد د پام وړ دي:

## لومړی

په عادلانه ډول د عوايدو راټولول او لګول، چې د اقتصادي ودې په پراختيا کې مهم رول لري. د افغانستان اسلامي امارت دې د عوايدو راټولولو او بېرته لګولو پر پروسه د دوامداره نظارت لپاره يو منظم ميکانيزم جوړ او له هغه سره سم دې مخته لاړ شي. تر څو په ټولنه کې د غريب او خان تر منځ فرق ونه شي او غريب دې ته اړ نشي چې د غلا، قتل او نورو نامشروع لارو څخه ځان ته روزي پيدا کړي.

## دويم

اوسمهال د افغانستان د کانونو استخراج په منظم او قانوني ډول روان دی؛ خو په ټوله کې د کانونو پر استخراج د نظارت سيستم لا پياوړتيا ته ضرورت لري، تر څو د عوايدو په راټولولو کې شفافيت نور هم خوندي شي.

## درېيم

اوسمهال د خلکو د اقتصادي وضعيت د ښه والي موخه ښه داده، چې اسلامي امارت د نړۍ په ښه اقتصاد لرونکو هېوادونو کې، خپلو خلکو ته د کاري فرصتونو د موندلو په موخه د بازارونو څېړنه او ارزونه وکړي، له ځينو هېوادونو سره خپلو خلکو ته د کاري فرصتونو په موخه هوکړه‌ليکونه لاسليک کړي، تر څو افغانانو ته زمينه برابره شي، چې له قانوني لارو څخه نورو هېوادونو ته د کار کولو لپاره ولاړ شي.






### شلورم

دا چې په ټول هېواد کې امنیت دی، اړتیا ده چې د هېواد دننـــه د اقتصادي باور رامنځته کولو په برخه کې هڅــې وشي او پانګوال په افغانستان کې پانګونې ته وهڅول شي.

### پنځم

د بشري ځواک پـــر روزنه تمرکز کول د افغانستان د اقتصاد د راتلونکي لپاره یو مهـــم ټکی دی. ځکه ځوانان د پرمختګ او آبادۍ هغـــه ځواکمنې متې دي، چې هره ټولنه ورته اړتیا لري. د خوښۍ ځای خو بیا دا دی چې د افغانستان له نیمایي زیاته سلنه نفوس ځوانان تشکیلوي. پر ځوانانـــو پانګونـــه په حقیقـــت کې پر اقتصـــادي برنامو پانګونـــه ده او دا د اوســـنۍ نړۍ غوښتنه ده. پکار ده چې د صنعـــت او اقتصـــاد په برخـــه کې په مســـلکي ډول ځوانان وروزل شي او په راتلونکي کې ترې ګټه پورته شي.

### شپږم

د اقتصادي اړیکو پراختیا د هېوادونو د اقتصـــادي ودې یـــو مهـــم اصل دی. صنعـــت، ســـوداګري او اقتصاد ټول د راکـــړې ورکړې نوم دی، نو اړتیا ده چې له نـــورو هېوادونو سره خپلې اقتصادي اړیکې کلکې او پراخې کړو؛

# د قوش‌تېپې کانال

## د لومړي فاز چارې 50 سلنه بشپړې او کارونه يې په چټکۍ سره روان دي

احمد شاه راشد

د قوش‌تېپې کانال پروژه چې د هېواد په شمال کې د سلګونو زره هکتاره ځمکې د خړبولو لپاره پلان شوې ده، عملي چارې يې د روان لمريز کال په لومړيو کې پيل او دا مهال يې د لومړي فاز کارونه 50 سلنه بشپړ شوي دي. د قوش‌تېپې کانال پروژه چې د هېواد په سطحه يوه له ملي او حياتي پروژو څخه بلل کيږي، په درېيو فازونو کې ډيزاين شوې او کارونه يې د ملي پراختيا شرکت له لوري پر مخ بيول کيږي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د ملي پراختيا شرکت له مسوولينو څخه چې د قوش تېپې کانال کارونه پر مخ بيايي، مننه وکړه او د دوی چارې يې مثبتې وارزولې محترم ملا صاحب وويل: «مناسبه ګڼم چې د ملي پراختيا شرکت له رهبرۍ او له ټول ټيم څخه يې مننه وکړم، د ملي پراختيا شرکت په افغانستان کې يوازينی شرکت دی چې په هېواد کې يې هر کار ته اراده کړې هغه يې په ښه شکل او وخت ترسره کړی دی.» د ملي پراختيا شرکت رهبري د پروژې په پيل کې وعده ورکړې وه چې د ماشينرۍ اندازه به 2800 او په ورځ کې به د کندنکارۍ کچه 360 زره مترمکعب ته ورسوي. د ملي پراختيا شرکت اجرائيوي رئيس محترم عبدالرحمن عطاش په دې برخه کې کړې ژمنې ته په اشارې سره وويل چې زياترو خلکو به داسې انګيرله چې ګني د دې سترې پروژې چارې به د ملي پراختيا شرکت په وس پوره وي او که نه، خو اوس دادی د پروژې چارې له اټکل څخه په لوړه کچه او ښه کيفيت مخ پر وړاندې رواني دي. نوموړي زياته کړه: «اکثريت خلکو ته دا سوال پيدا کيږي چې ايا موږ د دې ظرفيت لرو چې دا پروژه تطبيق کړو، خو دلته عزم وجود لري، ډېر په قوت سره به ان‌شاءالله د کار بهير کې به د ماشينرۍ تعداد شاوخوا 2800 ته ورسوو او دا به ثابته کړو چې افغانستان کولای شي خپل اقتصاد په پښو ودروي او خپلې ملي پروژې په خپله تطبيق کړي.» خو اوس چې د پروژې د کار له پيل څخه 10 مياشتې تيرېږي د ماشينرۍ تعداد د توقع خلاف 3600 ته او په ورځ کې د



کندنکارۍ اندازه 720 زره مترمکعب ته رسېدلې. د ماشینرۍ او کندنکارۍ په زیاتوالي سره اټکل دادی چې د قوش‌تېپې کانال کارونه به له ټاکلې مودې وړاندې بشپړ شي. په دې اړه د ملي پراختیا شرکت ولایتي مسؤل انجنیر فرید عظیم وویل: «په ساحه کې په ورځني ډول چې موږ ته د کندنکارۍ کوم هدف ټاکل شوی ؤ، هغه 360 زره مترمکعب ؤ، خو الحمدالله د انجنیرانو او قراردادي شرکتونو په هڅو موږ دا اندازه په ورځني ډول تر 720زره مترمکعب پورې رسولې ده. د دې پروژې اقتصادي او ټولنیز اهمیت ته په کتو سره زه ډاډه یم چې کارونه به یې له ټاکلې مودې مخکې بشپړیږي.» اوسمهال د قوش تېپې کانال پروژې په لومړي فاز چې 108 کیلومتره اوږدوالی لري، په 114 نقطو کې په چټکۍ سره کار روان دی او په دې پروژه کې په مستقیم ډول له 6000 زیات کسان پکار بوخت دي او له دې لارې حلاله روزي پیدا کوي. ځینې کارگران په دې کانال کې په کار کولو له دې امله خوښ دي چې د هېواد په ابادۍ کې برخه اخلي. د قوش تېپې کانال یو کارگر برات خان وایي: «زه پر دې خوښ یم چې په خپل هېواد کې کار کوم او دا زموږ د هېواد ابادي ده، کله چې دا پروژه بشپړه شي او له امله یې دا شاړې دښتې ابادې شي، نو د هېواد اړتیا وړ غنم به له دې لارې پوره شي.» د قوش‌تېپې کانال یو بل کارگر الله داد بیا له دې امله خوښ دی چې په خپل هېواد کې ورته د کار زمینه برابرې شوې، هغه وایي: «زه ډېر خوشبخته یم چې په خپل وطن کې راته کار پیدا شوی دی، مخکې له دې چې دلته راشم ما په ایران کې کارگري کوله، نو چې کله خبر شولو چې دلته کار پیل شوی دی، موږ هم راغلو دلته مو کار پیل کړ.» د قوش‌تېپې کانال کارونه د افغان متخصصینو له لوري پر مخ وړل کیږي او مصرف یې د افغانستان اسلامي امارت له ملي بودیجې ورکول کیږي. د لومړي فاز لگښت 8 میلیارده افغانۍ اټکل شوی چې د ملي بودیجې له انکشافي برخې ورکول کیږي. د یادولو وړ ده، چې د قراردادي شرکتونو پیسې پر وخت ورکول کیږي او له دې وجې د پروژې په کارونو کې چټکوالی را منځته شوی دی او قراردادي شرکتونه شپه او ورځ او په پوره ډاډ خپلې چارې پرمخ بیایي. په دې اړه د عبدالله حمید ساختماني شرکت مسؤل وویل: «هغه اندازه چې زموږ سره قرارداد کیږي، چې کله هغه موږ تکمیل کړو له دوو تر دریو ورځو په جریان کې موږ ته پیسې راکول کیږي، اوس د ملي پراختیا شرکت اجرائیوي رئیس تصمیم نیولی چې انوایسونه انلاین شي، نو له دې سره به د یوې ورځې په جریان کې موږ خپلې پیسې ترلاسه کوو.» د قوش تېپې کانال په پروژه کې د هېواد د مختلفو قومونو د لسگونو مسلکي کادرونو ترڅنگ زرگونه عرادې ماشینري هم د یادې پروژې چارې پرمخ بیایي. نجیب الله یاوري د قوش‌تېپې کانال پروژې ساحوي انجنیر بیا وایي چې د یادې پروژې د سروې، ډیزاین او نورې چارې خپله د افغانانو له لوري پرمخ بېول کیږي، نوموړی پر دې کار خوښي څرگندوي او زیاتوي :«خوښ یم چې په دې لویه ملي پروژه کې کار کوم، د خوښۍ ځای دادی چې د دې پروژې سروې، ډیزاین او عملي چارې ټولې د افغان انجنیرانو لخوا پرمخ وړل کیږي.» مجیب الرحمن- د قوش‌تېپې کانال پروژې بل ساحوي انجنیر دی،



نوموړی پــه یاده پروژه کې پــر کار کولو ویاړي او وایي :«په ســخت حالت کې موږ کار ترسره کوو او دا کار په ویاړ ترسره کوو، موږ پر دې خوښ یو چې د خپل هېواد په ابادۍ کې موږ ته د کار زمینه برابره شــوې ده.» دغه انجنیران چې د قوش‌تېپې کانال پروژې په تطبیق کې اســاسي رول لري، د نورو کارګرانو ترڅنګ په ســختو شرایطو کې شــپه او ورځ کار کوي، تــر څو د یاد کانال چــارې ژر تر ژره بشــپړې او ګټې اخیســتنې ته وســپارل شي. د قوش‌تېپې کانال پروژې ساحوي انجنیر نور احمد له دې امله خوښ دی چې دا ســتره پروژه د اســلامي امارت له لوري تمویلیږي او پلي کیږي، هغه وایي: «ډېر خوشحاله یو چې په خپل وطن کې کار کوو او د خپل ملت او خلکو لپاره کار کوو او په یوه داسې حیاتي پروژه کې کار کوو چې د هېواد په تاریخ کې به بې مثاله پروژه وي چې د افغانســتان اســلامي امارت لــه لــوري تطبیقیږي.» حکومتي مســؤلین هم وخت پر وخت د یادې پــروژې کارونه له نــږدې ګوري او څــاري، دوی وایي، چې د دغــه کانال په بشپړېدو سره به افغانستان د غلو دانو له اړخه خودکفــا شي او وبه کولای شي چې خپل کرنیز محصــولات نورو هېوادونو ته صادر کــړي.د ریاســت الــوزراء اداري مرستیال محترم عبدالسلام حنفي په دې اړه وویل، پروګرام خو دا دی چې د قوش تېپې کانال پروژې کارونه په درېیو فازونو کې بشــپړ شي او اوس په لومړي فاز چې 108 کیلومــتره اوږدوالی لري، له کلدارې ولسوالۍ څخه پیل او تر دولت اباد پورې دوام لري، کار جریان لــري، د الله ج په توفیق سره به کارونه د پلان مطابق مخکې لاړ او بشــپړ شي. د افغانســتان اسلامي امــارت ویاند محترم مولــوي ذبیح الله مجاهد بیا د قــوش تېپې کانال یوه حیاتي پروژه بولي او زیاتوي: «دا د افغانستان د خلکو لپاره یو حیــاتي کانال دی او د دغه کانــال په جوړېــدو سره بــه د غنمو او حبوباتو له اړخه افغانستان خودکفا شي او موږ به وکولای شو چې د سیمې هېوادونو ته هم زراعتي محصولات صادر کړو.» په کم وخت کې د یاد کانال زیات کار د ترسره کېدو او د کانال په ســطحه باندې د اوبو بهېدو سره یادې ســاحې ته د هېوادوالو توجه اوښــتې ده او هره ورځ د هېواد له ګوټ ګوټ څخه خلک د یاد کانال لیدلو ته راځــي. د بلخ یو اوســیدونکی چې له یاد کانال څخه یې لیدنــې کړې خوښ دی او وایي: «دا د افتخار ځای دی چې په هېواد کې مو بنیادي پروژې پیلیږي او له دې لارې به موږ وکولای شــو چې عایدات ترلاســه کــړو.» د بلــخ یو بــل اوســیدونکی د افغانستان د پرمختګ په برخه کې اسلامي امارت هڅې ستایي، نوموړی زیاتوي: «زه په هغه اندازه خــوښ یم چې په دنیا کې مې هېڅ جنجال نه وي لیدلی او نن دنیا ته نوی راغلی یم امید لرم، چې د افغانستان اســلامي امارت په هڅو به پر خپلو پښو ولاړ افغانستان ولرو .» د میدان وردګو یو اوســیدونکی د قوش تېپې کانال په رغېدو سره د ویاړ احســاس کــوي، هغه خپل احساس داسې بیانوي: «زموږ احساس له دې نور هم لوړ شــو کله مو چې دا کانال ولیدلو ان‌شــاءالله افغانستان ابادیږي که چېرې دا کانال تکمیل شي دا ټولې دښــتې به ورسره ابادیږي ان‌شــاءالله .» د لومړي فاز په تکمیلېدو سره به د دویم فاز چارې هم ژر پیل شي او د افغانســتان اسلامي امارت د هغې د تمویل لپاره بشــپړ تعهد

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

**موږ ولس ته ډاډ ورکوو، چې افغانستان به پر ځان بسیا کېږي او د نورو له مرستو به خلاصېږي.**

لري. پــه دې اړه د مالیې وزیر محترم ملا هدایت الله بدري وویل: «د 1401 لمریز کال د ملي بودیجې په انکشافي برخه کې د قوش‌تېپــې کانال د لومــړي فاز چارو عمــلي کېدو ته 8 میلیارده افغانۍ په نظر کې نیول شــوې وې، په نوي کال کې به د دوی د ضرورت په اندازه پیسې په پام کې ونیسو .» دا د امو سیند دی چې تر تېر کال پورې د امو ســیند له اوبــو څخه د ګټې اخیستنې په پار هېڅ راز پلان په پام کې نه و نیول شوی، خو د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره اوس امو سیند د خپل اصلي مســیر په طــرف روان دی چې د سربند په جوړېدو سره به په راتلونکو څو میاشــتو کې د امو سیند اوبه د قوش‌تېپې کانال له لارې د هېواد شمال وچې دښتې ښېرازه او سمسورې کړي. د یادونې وړ ده چې د قوش‌تېپې کانال چې د بلخ ولایت له کلدارې ولســوالۍ پیل شــوی دی او د جوزجان ولایت څخه په تېرېدو د فاریاب ولایت تــر اندخــوی ولســوالۍ پورې غځېدلــی، ټولټــال 285 کیلومــتره اوږدوالی، 152 متره سور او له 8.5 - 12.5 مترو پورې ژوروالی لري.

## الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند:

## "د قوش‌تېپې کانال په بشپړېدو سره بــه افغانستــان د کــرنیزو محصولاتــو له اړخه خودکفا شي"



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# پیغامونه

”افغانستان د طبيعي سرچينو، زراعتي محصولاتو او غاليــو د صنعت له اړخــه د پانګونې او تجارت باالقوه ظرفيتونه لــري او محصولات يې د دنيا په بازارونو کې خاص ځای لري.

”د افغانستان اسلامي امارت د تېر يوه کال پر مهال د عوايدو پــه برخه کــې خپلو ټاکلــو اهدافو ته رسـېدلی او د هېواد ټول لومړني ضرورتونه يې له خپلو کورنيو عوايدو پوره کړي دي.

”افغانســـتان تر هر بل وخـــت، د ترانزيټ، تجارت، پانګونې منطقوي وصل او سيمه‌ييزو همکاريو لپاره په يو مأمون او مناسب هېواد بدل شوی دی.

”اسلامي امارت د خلکو له اقتصادي ستونزو او ننګونو خـــبر دی او د دې ســـتونزو د حـــل لپاره مناســـب پروګرامونه او تګلارې لري، چې په پلي کېدو سره به يې يادې ستونزې تر ډېره حده حل شي.



”بهرنيان زموږ هېواد نه جوړوي، موږ به خپل هېواد په خپله جوړ وو، د شـــکر ځـــای دی الله تعالی د سيمې په کچه يو غني هيواد راکړی دی.

”د نړۍ له ټولو پانګوالو څخه غواړم چې راشي او په افغانســـتان کې پانګونه وکړي او د افغانستان له خلکـــو سره په ګډه خپـــل مشروع اقتصـــادي او تجارتي اهداف ترلاسه کړي.



«لکه څنګه چې پوهېږئ، ماليات د يو هېواد د ملي عوايدو په تأمين کې خورا مهم رول لري. همدا ماليات دي چې د هېوادونو ملي بوديجه جوړوي او د ولسونو امنيت، عامه خدمتونه او هوساينه تضمينوي.
په اوسنيو شرايطو کې د افغانستان ملي بوديجه مطلق له کورنيو عوايدو برابرېږي؛ نو دا زموږ او تاسو په خاصه توګه د ماليې وزارت مسئوليت دی چې د مالياتو په راټولولو کې شفافيت رامنځته کړو. داسې شفافيت چې نه د امارت عوايد ورک شي او نه هم پر صنعتکارانو او سوداګرو بې ځايه مالي فشار تحميل شي.»



«له دې سره سره چې مالياتي معافيت اوسمهال زموږ بحث دی؛ د يادولو ده چې د ماليې وزارت لخوا پنځه کلنې او درې کلنې ارزونې او له دې سره همهاله د جوازونو د تمديد مسئلې هم سوداګر سخت تنګ کړي دي. د پنځه کلنې او درې کلنې ارزونې له ويرې په بهر کې مېشت تجاران جرئت نه کوي چې هېواد ته راشي؛ د جوازونو د تمديد د جنجال له امله ځينو تجارانو خپل جوازونه د خپلو دفترونو الماريو کې ايښي دي او هر درې کاله وروسته د خپلوانو په نامه، نوي جوازونه جوړوي؛ ځينې سوداګر وايي چې موږ د مالياتو ورکړې ته ژمن يو، خو دوی غوښتنه کوي چې زموږ مالياتي تصفيې دې يو کلنې شي. ولس بايد په هېڅ صورت له خپلو هېڅ ډول حقه، مسلمو او ثابتو حقوقو څخه محروم نه کړل شي.»



«په دې اړه مو له ماليې وزارت څخه غوښتنه ده چې د يادو ستونزو لپاره يوه اساسي حللاره جوړه او خپل اجرايي ميکانيزم د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي، څو د يادې ستونزې د له منځه وړلو لپاره په لوړه کچه تصميم ونيول شي.
ځای لري چې د افغانستان صنعتکارانو اوسوداګرو ته ډاډ ورکړم چې اسلامي امارت تر خپله وسه کوښښ کوي چې ستاسو ستونزو ته اساسي حللارې پيدا او تجارتي فعاليتونه مو اسانه کړي.»

# گرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنګي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توګه په لاس کې واخلي.

د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توګه د افغانستان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

**الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند**

@FDPM_AFG

dpmea.gov.af

@FDPM_AFG